وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلاً ط

# تجوید القرآن

لیکوال : استاد انجنیر جمشید (حمزه)

چاپ کال: ۱۴۰۱/۴/۹ ه،ش

بسم الله الرحمن الرحيم

## لړلیک

**عنوانونه** **مخ**

سریزه........................................................................................................۱

لومړی څپرکی

تجوید لغوی او اصطلاحی پیژندنه................................................................۲
تجوید د علم فایده..........................................................................................۲
تجوید دعلم موضوع.......................................................................................۲
تجوید دعلم هدف...........................................................................................۲
تجوید دعلم اصطلاحات..................................................................................۳
څپرکي تمرین...................................................................................................۶

دوهم څپرکي

د قرآنکریم د تلاوت کولو طریقې..................................................................۹
د تعوذ او تسمیه د استعمال ځای....................................................................۹
تجوید ډولونه ............................................................................................ ۱۰
تجوید ارکان..................................................................................................۱۱
تجوید له نظره د یو عاقل انسان غاښونه.......................................................۱۱
څپرکی تمرین ..............................................................................................۱۳

دریم څپرکی

حرف لغوی او اصطلاحي پیژندنه...................................................................۱۵
حروفو ډولونه..................................................................................................۱۵
مخرج لغوي او اصطلاحی پیژندنه..................................................................۱۵
عام اوخاص مخرج پیژندنه.............................................................................۱۶
حروفو مخرجونه پیژندل..................................................................................۱۷
مخرجونو ډولونه پیژندل.................................................................................۱۸
څپرکی تمرین................................................................................................۲۳

## څلورم څپرکی

صفت لغوی او اصطلاحي پیژندنه.......................................................................۲۵
صفتونو ډولونه پیژندل.........................................................................................۲۸
وقف او دهغه علامې پیژندل.................................................................................۲۹
لحن او دهغه ډولونه پیژندل..................................................................................۳۰
ابتداء پیژندل.......................................................................................................۳۱
اعاده او قطع پیژندل.............................................................................................۳۱
سکته پیژندل......................................................................................................۳۲
څپرکی تمرین.....................................................................................................۳۴

## پنځم څپرکی

نون ساکن او نون تنوین پیژندل............................................................................۳۶
د نون ساکن او تنوین احکام پیژندل......................................................................۳۷
اظهار پیژندل......................................................................................................۳۸
ادغام پیژندل.......................................................................................................۴۰
اقلاب پیژندل.......................................................................................................۴۰
اخفاء پیژندل.......................................................................................................۴۳
مد او دهغه ډولونه پیژندل...................................................................................۴۵
څپرکی تمرین.....................................................................................................۴۷
مأخذونه............................................................................................................۴۸
لیکوال پیژندنه....................................................................................................۴۹

# سریزه

ان الحمد لله ، نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ باالله من شرور انفسنا و من سیئات اعمالنا ، من یهده الله فلا مضل له و من یضلل فلا هادي له ، و اشهد ان لا اله الا الله و حده لا شریک له و اشهد ان محمداً عبده ورسوله اما بعد فا اعوذ باالله من الشیطان الرجیم ، بسم الله الرحمن الرحیم.

تاسې ټول په دې پوهیږئ چې قرآنکریم د الله ج کلام او خبرې دي، او قرآنکریم په مونږ او تاسو باندې حق لري چې هغه په درست او ښکلي شکل سره تلاوت او ولولو.

الله جل جلا له په قرآنکریم کې د سورت مزمل د څلورم آیت په نیمایي کې داسې امرکوي چې **( وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلاً ط )** ژباړه: تاسې قرآنکریم تلاوت کړئ په ښه لوستلو سره. یعني تاسې چې کله قرآنکریم تلاوت کوی باید د هر حرف هغه حق ادا کړی. او یا هم که په لنډ ډول ووایو تاسې قرآنکریم په داسې ډول سره تلاوت کړی لکه څرنګه چې رسول الله .ص. او نور صحابه کرامو قرآنکریم تلاوت کاوه.

نو که چیرته یوشخص غواړي چې قرآنکریم په ښه شکل سره تلاوت کړي لومړئ باید د تجوید قواعد او احکامو سره آشنایي ولري. نو زه هم د همدې لپاره غوره بولم چې خپلو وطنوالو او په قرآن مبین ځوانانو ته د تجوید د اصطلاحاتو ،احکامو او قواعدو د ښه زده کولو لپاره یو واضح د تجویدالقرآن په نامه چپټر ولیکم.

دا چیپټر په پنځو څپرکیو ویشل شوې او د هر څپرکي په پای کې د مربوطه څپرکي تمرین ورکول شوي ترڅو زده کوونکي نور هم لاس په کار شي.

که تاسو په دې چپټر کې کومې ښیګڼې وینئ نسبت یې زما عزتمند استاد الحاج قاری صاحب وزیرګل (مهمند) او نورو استادانو ته دی. ځکه دا ټولې دهغوی هڅې دي چې دلته یې نمونه وړاندې شوې ده، البته که له کومې غلطۍ، نیمګړتیا سره مخ شوی د هغه نسبت ماته کوئ او د اصلاح په موخه یې زما سره اړیکه و نیسی، ترڅو په راتلونکې چاپ کې د اصلاح کوښښ وشي.

**په درناوي!**

**استاد انجنیر جمشید حمزه**

# لومړی څپرکی

موخې

د دې څپرکي په لوستلو سره به تاسې له لاندې مهم مواردو سره آشنا او وکولای شئ چې:

- ✓ د تجويد په لغوي او اصطلاحي تعريف ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجويد دعلم په تعريف ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجويد او د تجويد دعلم په توپيرځان پوه کړئ.
- ✓ د تجويد دعلم په هدف ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجويد دعلم په فايده ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجويد دعلم په موضوع ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجويد دعلم په مهم اصطلاحاتو ځان پوه کړئ.
- ✓ د دې څپرکي په پای کې دمربوطه څپرکی تمرين(۱) ځای پرځای شوئ.

# تجويد القرآن

**د تجويد لغوي تعريف:** تجويد په لغت کې په يوشي سره د بل شي ښايسته کولو ته وايي. دلته يوشی قرآن ده او بل شی تجويد ده، يعني مونږ په تجويد سره قرآن ښايسته کوو. يا په بل عبارت سره تجويد په لغت کې د قرآنکريم ښايسته لوستلو ته وايي.

**د تجويد اصطلاحي تعريف:** اداء کول د ټولو حروفو له خپلو ټولو خاصو مخرجونو، سره د ټولو صفاتو د تجويد په نامه ياديږي. چې دلته له صفاتو څخه هدف لازمه او غيرلازمه صفات دي چې وروسته به ان شاالله په تفصيل سره پرې بحث وکړو.

د هر علم او فن په شروع کولو کې د څو خبرو پيژندل ضروري وي.

**۱-** د تجويد د علم تعريف **۲-** د تجويد دعلم هدف يا غرض **۳-** د تجويد دعلم فايده

**۴-** د تجويد دعلم موضوع

**د تجويد دعلم تعريف:** د تجويد علم عبارت له هغه علم څخه دی چې په دې کې د حروفو د مخرجونو او د حروفو د صفتونو بحث کيږي. چې وروسته به د حروفو په مخرجونو او د حروفو په صفتونو باندې په تفصيل سره بحث وکړو.

**د تجويد دعلم او تجويد ترمنځ فرق:**

د تجويد دعلم او د تجويد ترمنځ مهم فرق داده چې د تجويد علم چې ده هغه د تجويد د قواعدو ، احکامو او د علم نوم ده ليکن تجويد بيا د عمل نوم ده يعني په دې معنی چې قرآنکريم په داسې شکل سره لوستل چې هغه د تجويد د قواعدو او احکامو موافق وي.

**د تجويد د علم هدف يا غرض:** د قرآنکريم د تلاوت په وخت کې خپله ژبه له خطاء ساتل او قرآنکريم په مسنونه طريقه تلاوت کول د تجويد دعلم غرض يا هدف بلل کيږي. يعني قرآنکريم په داسې شکل سره تلاوت کول لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او عبدالله بن مسعود قرآنکريم تلاوت کاوه.

**د تجويد د علم فايده:** د تجويد د علم اصلی فايده داده چې څوک د تجويد علم زده کړي او وروسته بيا د تجويد د علم احکام او قواعد د قرآنکريم په لوستلو کې مراعات کړي، په دې سره مربوطه انسان به په دې دنيا او آخرت کې کامياب وي او د الله پاک رضاء به حاصله شي.

**د تجويد دعلم موضوع:** له كومو حروفو څخه چې قرآنكريم جوړ شوی هغه حروف د تجويد د علم موضوع بيانوي،قرآن كريم له ۲۹ حروفو جوړ ده،چې دغو حروفو ته د هيجاء حروف وايي. چې د هيجاء حروف عبارت دي له.

**ا(الف) ب(با) ت(تا) ث(ثا) ج(جيم) ح(حا) خ(خا) د(دال) ذ(ذال) ر(را) ز(زا) س(سين) ش(شين) ص(صاد) ض(ضاد) ط(طا) ظ(ظا) ع(عين) غ(غين) ف(فا) ق(قاف) ک(کاف) ل(لام) م(ميم) ن(نون) و(واو) هـ(ها) ء(همزه) ى(يا).**

**د تجويد د علم مهم اصطلاحات**

تول زده كونكي دې د تجويد دعلم دا تول مهم اصطلاحات زده كړي او حفظ يې كړی، ترڅو را تلونكي درسونه تاسوته ستونزمن واقع نشي!

**۱- حركات:** حركات زورــَـ ، زيرــِـ او پيښ ــُـ ته وايي، خو بيا هريوه ته **حركت** وايي. د درې واړو عربي نومونه په لاندې ډول دي.

- ✓ **فتحه:** فتحه زورــَـ ته وايي، زورهميشه د يو حرف د پاسه وي، هغه حرف چې زور ولري هغه حرف ته مفتوح حرف وايي. لكه: بَسَرَ او نور.....
- ✓ **كسره:** كسره زيرــِـ ته وايي، زير هميشه د يوحرف لاندې وي، هغه حرف چې زير ولري هغه حرف ته مكسور حرف وايي. لكه: اِبِلِ او نور......
- ✓ **ضمه:** ضمه پيښ ــُـ ته وايي، پيښ هميشه د يو حرف د پاسه واي، هغه حرف چې پيښ ولري هغه حرف ته مضموم حرف وايي. لكه: رُسُلُ او نور.....

**۲- متحرک حرف:** هغه حرف چې زور يا زير او يا پيښ ولري هغه حرف ته متحرک حرف وايي. او يا په بل عبارت متحرک حرف هغه حرف ته وايي چې حركت ولري. لكه: تَزِرُ كې هر حرف متحرک دی ځكه چې هريو ځانته حركت لري.

**۳- سكون:** جزم يا غړوندي ــْـ ته وايي، جزم هميشه د يو حرف د پاسه وي. هغه حرف چې جزم يا غړوندی ولري هغه حرف ته ساكن يا مجزوم حرف وايي. لكه: قُلْ كلمه كې لام حرف ساكن ده ځكه چې غړوندی يا جزم لري.

**۴- مُشَدَّدْ حرف:** هغه حرف چې شد( ّ ) ولري هغه حرف ته مُشَدَّدْ حرف وايي. لكه: اَوَّلَ كلمه كې واو حرف مُشَدَّدْ دی.

**۵- مخفف حرف:** هغه حرف چې شد ( ّ ) ونلري هغه حرف ته مخفف حرف وايي. لكه: عَمَلَ كلمه كې هر حرف مخفف دی ځكه چې شد ( ّ ) نلري.

**۶- تنوین:** تنوین دوه زوروونه ـــــً ، دوه زیرونه ـــــٍ او دوه پیښونو ـــــٌ ته وايي. يعنې هریوه ته جدا جدا تنوین وايي. چې عربي نومونه يې په لاندې ډول دي.

- ✓ **فتحةٍ يا فتحه تين:** دوه زورونو ـــــً ته وايي. جً، حً ، لً، کً او نور....
- ✓ **کسرةٍ يا کسره تين:** دوه زيرونوـــــٍ ته وايي. جٍ، حٍ، لٍ، کٍ او نور.....
- ✓ **ضمةٍ يا ضمه تين:** دوه پيښونوـــــٌ ته وايي. جٌ، حٌ، لٌ، کٌ او نور.....

**۷- مُنَوَّن:** هغه حرف چې تنوين ( ً ، ٍ ، ٌ ) پرې راغلی وي هغه حرف ته مُنَوَّن حرف وايي. لکه مُحَمَّدٌ کله کې دال حرف مُنَوَّن حرف دی ځکه چې تنوين ورباندې راغلی.

**۸- مُهْمَل:** هغه حرف چې ټکی ونلري هغه حرف ته مُهْمَل حرف وايي لکه: ع، ح او نور....

**۹- مُعْجَم:** هغه حرف چې ټکي يا ټکی ولري هغه حرف ته مُعْجَم حرف وايي. لکه: غ، خ او نور...

**۱۰- تَفْخِيم:** تفخيم ډک لوستلو ته وايي. هغه حرف چې ډک ولوستل شي هغه حرف ته مُفَخَّم حرف وايي

**۱۱- تَرْقِيْق:** ترقيق باريک يا نرى لوستلو ته وايي. هغه حرف چې باريک لوستل کيږي هغه حرف ته مُرَقَّق حرف وايي.

**۱۲- قَصْر:** کله چې یو حرف د دوه حرکتونو( یوالف) په اندازه کش یا اوږد شي دې ته قصر وايي.

**۱۳- تَوَسَّط:** کله چې یو حرف د څلور حرکتونو( دوه الف) په اندازه کش یا اوږد شي دې ته توسط وايي.

**۱۴- طُوْل:** کله چې یو حرف د شپږو حرکتونو( درې الف) په اندازه کش یا اوږد شي دې ته طول وايي.

# ځېرکي تمرین(۱)

**هر زده کونکي ته پکار ده چې لاندې د تجوید پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب او زده یې کړي.**

۱- فتحه، ضمه او کسره څه ته وایي په لنډو ټکو کې یې واضح کړی؟

۲- قرآنکریم له کومو حروفو جوړ شوی واضح کړی؟

۳- قصر، طول او توسط تعریف کړی؟

۴- د تجوید لغوي او اصطلاحي تعریف واضح کړی؟

۵- د تجوید دعلم موضوع په لنډو ټکو کې واضح کړی؟

۶- د تجوید دعلم هدف او فایده تشریح کړی؟

۷- د تجوید دعلم څو مهم اصطلاحات پیژني هریو په لنډو ټکو کې واضح کړی؟

۸- د تجوید دعلم تعریف ذکر کړی؟

۹- کسره تین څه ته وایي واضح کړی؟

۱۰- ضمه تین څه ته وایي واضح کړی؟

۱۱- فتحه تین څه ته وایي واضح کړی؟

۱۲- ولې د تجوید علم لوستل کیږي؟

۱۳- آیا ستاسو په نظر د تجوید علم نظر نورو علومو ته بهتر ده اوکنه! دلیل یې وواياست؟

**په خپلو کتابچو کې لاندې خالي ځایونو کې مناسب لفظونه ولیکی!**

۱- هغه حرف چې ټکی ولري هغه حرف ته............ وایي.

۲- په کوم حرف چې تنوین وي هغه حرف ته ............ وایي.

۳- کوم حرف چې باریک یا تش لوستل کیږي هغه حرف ته.............. وایي.

۴- د هیجاء حروف ...... دي.

۵- په یوشي سره د بلشي ښایسته کولو ته.......... وایي.

۶- عربي ژبه کې درې واړو (ـــَ، ـــِ ، ـــُ ) ته............ وایي

۷- په کوم حرف چې جزم وي هغه حرف ته........... وایي.

**لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې په (ص) یا (غ) ځواب کړی!**

۱- کوم حرف چې ډک لوستل کيږي هغه حرف ته قَصْر وايي. (     )

۲- دوه حرکتونو(يو الف) په اندازه اوږدولوته طول وايي. (     )

۳- په کوم حرف چې شد وي هغه حرف ته مخفف وايي. (     )

۴- تر کوم حرف لاندې چې زير وي هغه حرف ته مکسور وايي. (     )

۵- د تجويد درې ارکان دي. (     )

# دوهم څپرکی

**موخې!**

د دې څپرکي په لوستلو سره به تاسې له لاندې مهم مواردو سره آشنا او وکولای شئ چې:

- ✓ د قرآن کریم د تلاوت کولو په طریقو به ځان پوه کړئ.
- ✓ د تعوذ یعنې اعوذبالله..... د استعمالولو په محل به ځان پوه کړئ.
- ✓ د تسمیه یعنې بسم الله...... د استعمالولو په محل به ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجوید دعلم په ارکانو به ځان پوه کړئ.
- ✓ د تجوید په ډولونو به ځان پوه کړئ.
- ✓ د یو عاقل انسان د غاښونو په اړه به ځان پوه کړئ.
- ✓ د دې څپرکي په پای کې د مربوطه څپرکي تمرین(۲) ځای پرځای شوئ.

ټول زده کوونکي باید ددې څپرکي درسونه ښه په غور سره زده کړي ترڅو په راتلونکي څپرکي کې په درسونو کې کومې ستونزې واقع نشي.

## د قرآن کریم د تلاوت کولو طریقې

د قرآن کریم د تلاوت کولو طریقې درې دي.

- ✓ **تَرْتِیْل:** قرآن ډیر په زنډ زنډ اطمینان سره په داسې شکل سره لوستل چې د حروفو مخارج او صفاتو ته پکې پوره پاملرنه وشي، او ددې طریقې په مرسته یو قاري د یو مجلس د افتتاح کولو په وخت کې استفاده کوي.یعنې په دې طریقې سره قرآنکریم ډیر په ورو ورو لوستل کیږي. دې ډول د تلاوت کولوطریقې ته تحقیق طریقه هم وایي.
- ✓ **تَدْوِیْر:** د دې طریقې په مرسته یو قارئ د ترتیل د طریقې په نسبت لږ په تیزی سره قرآن تلاوت کوي. لکه په جهري لمونځونو کې چې قراعت کوو.
- ✓ **حَدْر:** د دې طریقې په اساس یو حافظ د قرآن کریم د رمضان په میاشت کې د تراویحو په ورکولو کې استفاده کوي، یعنې په دې معنا چې په دې طریقې سره قرآنکریم په تیزی سره لوستل کیږی. خو یوه خبره ده چې په دې طریقه کې د قرآنکریم د تلاوت کولو په وخت کې باید د تجوید قواعدو او احکامو ته باید زیاته توجه ووسی.

**دتعوذ یا اعوذ باالله د استعمال ځای یا محل:** دتعوذ یا اعوذ باالله د استعمال ځای یا محل د تلاوت په پیل کې وي او حکم یې سنت ده او د ځینی علمأو د اختلافاتو په بنا حکم یې واجب ده.

**د تسمیه یا بسم الله د استعمال ځای یا محل:** د تسمیه یا بسم الله د استعمال ځای یا محل د سورت په پیل کې ده او حکم یې سنت ده.

اوس په دې موضوع خبرې کوو، چې که چیرته وغواړو قرآنکریم تلاوت کړو یا یې ولولو نو په کوم حالت کې اعوذباالله ووایو او په کوم حالت کې بسم الله ووایو او یا هم په کوم حالت کې دواړه ووایو.

- ✓ **ابتداء د تلاوت او ابتداء د سورت:** په دې حالت کې هم د تعوذ او هم د تسمیه لوستل ضروري دي ځکه چې د دواړو محل یا د استعمال ځای موجود دی.
- ✓ **ابتداء د تلاوت او د سورت په منځ کې:** په دې صورت کې بیا د تعوذ لوستل ضروري دي ځکه چې محل یا د استعمال ځای یې موجود دی او د تسمیه په لوستلو کې اختیار لری.
- ✓ **ابتداء د سورت او د تلاوت په منځ کې:** په دې صورت کې بیا د تسمیه لوستل ضروري دي ځکه چې محل یا د استعمال ځای یې موجود ده او د تعوذ په لوستلو کې اختیار لری.

## د تجوید دعلم ارکان یا شرطونه

د تجوید دعلم ارکان یا شرطونه څلور داني دي.

**۱- د حروفو مخرجونه پیژندل:** یعنې د هر حرف مخرج پیژندل ډیرضرور دي چې وروسته به ان شاالله د هر حرف مخرج جدا جدا وپیژنو لکه،عَلِیْمٌ( پوهه)ــــ اَلِیْمٌ(درد منډ)

**۲- د حروفو صفتونه پیژندل:** یعنې د حروفو د مخرجونو ترڅنګ د حروفو د صفتونو پیژندل هم ډیر ضرور دي چې په دې به هم ان شاالله بحث وکړو لکه، وَالصَّیْفِ( دوبی یا ګرمي)ــــ وَالسَّیْفِ (توره)

**۳- د حروفو احکام پیژندل:** د حروفو د احکامو څخه هدف د تجوید د قواعدو پیژندل دي. لکه اظهار، ادغام،اخفاء، اقلاب ، مد او داسې نورو احکامو پیژندل چې وروسته به په هریو جدا جدا بحث ولرو ان شاالله. د مد یو مثال داده. وِاذْقُلْنا( الله ج وايي چې موږ وويل)ـــــ که مد په نظر کې ونه نیول شي. وِاذْقُلْنا(لکه یوې ښځې وويل)

**۴- د صحیح لوستلو کوشش کول:** یعنې ژبه د حروفو له سم اداء کولو سره عادت کول، یو کس چې څومره زیات د تجوید د احکامو یا قواعدو د زده کولو کوشش وکړي همغومره ډیر زر کولی شي قرآنکریم په آسانی سره په صحیح توګه تلاوت یا ولولي.

## د تجوید ډولونه

تجوید عموماً په دوه ډوله ده.

**۱-** تجوید علمي **۲-** تجوید عملي

**علمي تجوید:** د تجوید د کتابونو، د تجوید د احکامو او د تجوید د قواعدو زده کولو ته علمي تجوید وايي.چې د علمي تجوید حکم فرض کفايي ده.له فرض کفايي څخه هدف داده چې که چیرته په یوې کورنی یا یوې علاقه کې یوشخص هم د تجوید علم زده کړي پدې سره د نورو اشخاصو غاړې ورباندې خلاصیږي.

**عملي تجوید:** کله چې قرآن کریم د تجوید د احکامو او قواعدو موافق ولوستل شي دې ډول تجوید ته عملي تجوید وايي. چې د عملي تجوید حکم فرض عین ده. له فرض عین څخه هدف داده چې که چیرته یو شخص د تجوید علم زده کړي له هغه وروسته به قرآن کریم د تجوید د احکامو یا قواعدو موافق ضرورلولي. که چیرته یې و نه لولي په دې سره سخت ګنهګاریږي.

**مرتبه د علم تجوید:** د تجوید د علم زده کول تر ټولو نورو علومو بهتر او افضل ده، خپله د تجوید علم بهتر نه ده بلکې ددې تعلق له قرآن کریم سره ده نو ځکه بهترین علم ده.

## د غاښونو پیژندنه

ټول زده کونکي باید کوشش وکړي چې د تجوید د علم له نظره د یو عاقل انسان ټول غاښونه وپیژني، که چیرته دا درس زده کړی په راتلونکي درسونو کې به د مخرجونو درس آسانه شي.

د یو عاقل انسان ټول غاښونه ۳۲ داني دي چې ۱۶ یې په پاسنی ژامه کې واقع دي او ۱۶ نور یې په ښکتنی ژامه کې واقع دي، چې دې غاښونو ته ثنایا، رباعیات، انیاب، ضواحک، طواحن او نواجذ غاښونه وايي. چې په لاندې توګه ترې بحث کوو.

**۱- ثَنَايَا غاښونه:** مخامخ څلورو غاښونو ته ثنایا غاښونه وايي، پورتنیو دوه وته ( ثَنَايَا عُلْيَا) او لاندې دوه وته ( ثَنَايَا سُفْلَى) وايي. چې ټول ثنایا غاښونه ۴ داني دي.

**۲- رُبَاعِیْ غاښونه:** د ثنایا غاښونو په څنګ کې پورته، ښکته ، راسته او چپ لوري ته یو یو غاښ ته رباعي وايي. چې څلور واړو غاښو ته بیا رباعیات وايي. چې ټول رباعیات غاښونه ۴ داني دي.


**۳- اَنْيَابْ غاښونه:** د رباعي غاښونو په څنګ کې پورته، ښکته، راسته او چپ لوري ته یو یو غاښ ته انیاب وايي، چې څلور واړو غاښونو ته کَوَاسِر وايي. چې ټول انیاب یا کواسرغاښونه ۴ داني دي.

**۴- ضَوَاحِکْ غاښونه:** د انیاب غاښونو په څنګ کې پورته، ښکته، راسته او چپ لوري ته یو یو غاښ ته ضَاحِکْ وایي، چې څلور واړو غاښونو ته ضَوَاحِکْ وایي. چې ټول ضواحک غاښونه ۴ دانې دي.

**۵- طَوَاحِنْ غاښونه:** د ضواحک غاښونو په څنګ کې پورته، ښکته، راسته او چپ لوري ته درې درې غاښونو ته طواحن وايي. چې ټول طواحن غاښونه ۱۲ دانې دي.

**۶- نَوَاجِذْ غاښونه:** د طواحن غاښونو په څنګ کې پورته، ښکته، راسته او چپ لوري ته یو یو غاښ ته نَاجِذ وایي، چې څلور واړو غاښونو ته نواجذ وایي. چې ټول نواجذ غاښونه ۴ دانې دي.

نوټ: په یاد ولرئ چې ضواحک، طواحن او نواجذ غاښونو ته اَضْرَاس غاښونه وایي چې ټول اضراس غاښونه ۲۰ دانې دي.



## ځېرکي تمرين(۲)

**هر زده کونکي ته پکار ده چي لاندې د تجويد پوښتني په خپلو کتابچو کي ځواب او زده يې کړي.**

۱- د تجويد د علم ارکان څو دي واضح کړئ؟

۲- تجويد په څو ډوله دې صرف نومونه يې وليکئ؟

۳- د قرآنکريم د تلاوت کولو طريقې څودي صرف نومونه يې ذکر کړئ؟

۴- د قرآنکريم د تلاوت کولو د حدر طريقه تشريح کړئ؟

۵- د يو عاقل انسان غاښونه د تجويد دعلم په بنا څو دې صرف نومونه يې واخلئ؟

۶- انياب غاښونه څودي او د کوم غاښونو ترڅنګ واقع دي واضح کړئ؟

۷- علمي تجويد کوم ډول تجويد ته وايي واضح کړئ؟

۸- وواياست چي د قرآنکريم د تلاوت کولو په وخت کي د تدوير طريقه له حدر سره کوم توپير لري واضح کړئ؟

۹- طواحن غاښونه څودي واضح وواياست؟

۱۰- کومو غاښونوته اضراس غاښونه وايي او تعداد يې وواياست؟

۱۱- ولي د تجويد په علم کي د غاښونو پيژندل ضروري دي خپل معقول دليل وواياست؟

۱۲- وواياست چي د تجويد او دتجويد دعلم ترمنځ څه توپير شته اوکنه؟

۱۳- د يوعاقل انسان ټول غاښونه د تجويد د علم په بنا تشريح کړئ او وروسته يې په شکل کې وښاياست؟

۱۴- د تجويد د علم مرتبه يا فضيلت بيان کړئ؟

**په خپلو کتابچو کي لاندې خالي ځايونو کي مناسب لفظونه وليکی!**

۱- تجويد ...................... ارکان لري.

۲- ثنايا عليا غاښونه ................ داني دي.

۳- ثنايا غاښونه د .................... غاښونو ترڅنګ واقع دي.

۴- د طواحن غاښونو ترڅنګ ............. غاښونه دي.

۵- اضراس غاښونه ............. داني دي.

۶- حدر طريقه په ................... کي استعماليږي.

۷- د تجويد د احکامو پيژندل د تجويد دعلم يو ......... دی.

۸- تعوذ د تلاوت په پيل کي ............ حکم لري .

۹- د تسمیه محل.................. کې وي.

۱۰- د تعوذ محل.............. کې وي.

۱۱- تسمیه د سورت په پیل کې ............. حکم لري.

۱۲- تعوذ د سورت په پیل کې ............ حکم لري .

۱۳- تسمیه د تلاوت په پیل کې ............ حکم لري .

**لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې په (ص) یا (غ) ځواب کړی!**

۱- د تجوید علم دوه ارکان نلری( )

۲- د تسمیه محل د سورت په پیل کې نه وي( )

۳- د تعوذ محل د تلاوت په پیل کې نه وي( )

۴- ثنایا غاښونه ۶ دانې نه دي ( )

۵- ثنایا سفلی غاښونه دوه دانې دي ( )

۶- اضراس غاښونه ۲۰ دانې دي ( )

۷- د انیاب غاښونو ترڅنګ نواجذ غاښونه قرار نلري( )

# دريم څپرکی

موخې!

د دې څپرکي په لوستلو سره به تاسي له لاندې مهم مواردو سره آشنا او وکولای شئ چې:

- ✓ د حرف په لغوي او اصطلاحي تعريف به ځان پوه کړئ؟
- ✓ د حروفو په ډولونو به ځان پوه کړئ؟
- ✓ د مخرج په لغوي او اصطلاحي تعريف به ځان پوه کړئ؟
- ✓ عام او خاص مخرجونه به وپيژنی؟
- ✓ د حروفو په مخرجونو او دهغهو په مهمو مشخصاتو به ځان پوه کړئ؟
- ✓ د اللسان يا ژبې په مهمو برخو به ځان پوه کړئ؟
- ✓ د مخرجونو په ډولونو به ځان پوه کړئ؟
- ✓ د دې څپرکي په پای کې دمربوطه څپرکی تمرين(۳) ځای پرځای شوئ.

په دې څپرکي کې چې په کومو مهمو موضوعاتو باندې بحث کوو زده کول يې ډير ضروري دي تر څو د راتلونکي څپرکي درس ورته ډير آسانه شي.

که څوک غواړي چې يوحرف په ښه شکل سره ادا کړي لومړی بايد د هغه حرف مخرج و پيژني او روسته دې بيا ادا کړئ!

# د حروفو مخرجونه

ددې درس زده کول د عامو مسلمانانو لپاره او خصوصاً د ټولو حافظانو لپاره ضرور دی. حروف جمع د حرف ده او د حرف لغوي او اصطلاحي تعریف په لاندې ډول ده.

**د حرف لغوي تعریف:** حرف په لغت کې طرف یا غاړې ته وایي.

**د حرف اصطلاحي تعریف:** حرف په اصطلاح کې هغه صوت یا آواز ته وایي چې په محقق او یا مقدر مخرج کې دریږي.

**د حروفو ډولونه**

د هیجاء حروف په دوه ډوله دي.

- ✓ حقیقي حروف: هغه حروفو ته ویل کیږي چې هم په لوستلو کې وي او هم په لیکلو کې وي. لکه: اَبْ، اَنْ....
- ✓ حکمي حروف: هغه حروفو ته ویل کیږي چې په لوستلو کې وي خو په لیکلو کې نه وي.لکه: سمیعٌ علیم، سواءٌ علیهیم....

مخارج جمع د مخرج ده او د مخرج لغوي او اصطلاحي تعریف په لاندې ډول ده.

**د مخرج لغوي تعریف:** مخرج په لغت کې د وتلو ځای ته وایي.

**د مخرج اصطلاحي تعریف:** مخرج په اصطلاح کې د حرف د وتلو ځای ته وایي.او یا په بل عبارت له کوم ځای څخه چې حرف ادا کیږي هغه ځای ته مخرج ویل کیږي.

د هیجاء د حروفو مخرجونه په دوه عمومي برخو ویشل شوي.

**د حروفو مخرجونه**

**۱- عام مخرجونه**

**۲- خاص مخرجونه**

**عام مخرجونه:** عام مخرجونه هغو مخرجونو ته ویل کیږي چې خاص مخرجونه پکې موجود وي. عام مخرجونه پنځه داني دي.

**الف-** الحلق

**ب-** اللسان

**ت-** الشفتان یا الشفتین

**ج-** الجوف

**د-** الخیشوم

**خاص مخرجونه:** خاص مخرجونه هغو مخرجونو ته ویل کیږي چې په عام مخرجونو کې موجود وي. خاص مخرجونه د امام خلیل بن احمد په وینا ۱۷ داني دي.

اوس په ټولو عامو مخرجونو او خاصو مخرجونو باندې په تفصیل سره بحث کوو.

**۱- الحلق:** حلق ستوني ته ویل کیږي او په حلق کې درې خاص مخرجونه موجود دي چې شپږ حروف ورڅخه ادا کیږي. دا درې خاص مخرجونه په لاندې ډول دي.


- ✓ **اقصی حلق:** د حلق یا ستوني آخري حصه ته اقصی حلق وایي. له دې مخرج څخه دوه حروف اداء کیږي چې عبارت دي له ( همزه ، ها)
- ✓ **وسط حلق:** د حلق یا ستوني منځنی حصه ته وسط حلق وایي. له دې مخرج څخه دوه حروف اداء کیږي چې عبارت دي له (ع ، حا)
- ✓ **ادنی حلق:** د حلق یا ستوني اولنی حصه ته ادنی حلق وایي. له دې مخرج څخه هم دوه حروف اداء کیږي چې عبارت دي له ( غ ، خا)

چې دغو شپږواړو حروفو ته حلقي حروف وایي. د دې حروفو په هکله د تجوید علماء لاندې شعر هم بیان کړی.

**حروف حلقي شش بود ای با وفا**


**همزه ها و عین و حا و غین و خا**

**۲- اللسان:** لسان ژبې ته وایي. په لسان یا ژبه کې لس خاص مخرجونه دي چې ۱۸ حروف ورڅخه ادا کیږي. مخکې له دې چې پدې لسو خاصو مخرجونو بحث وکړو لومړی باید په ژبه باندې یو څه بحث وکړو. ژبه یا لسان په لاندې پنځو برخو تقسیم شوې.





**۱- اقصی لسان:** د ژبې آخري برخې ته اقصی لسان وایي. د ژبې په دې برخه کې دوه خاص مخرجونه دي چې دوه حروف ورڅخه اداکیږي.

- ✓ **ق مخرج:** کله چې د ژبې آخري برخه د پاسنی کوچنی ژبې له داخلي برخې سره ولګیږي په دې حالت کې ق حرف ادا کیږي.



(ق)

✓ **ک مخرج:** کله چې د ژبې آخري برخه د پاسنی کوچنی ژبې له خارجي برخه سره ولګیږي په دې حالت کې د ک حرف ادا کیږي. د مخرج له نظره د ق او ک حروفو ته لهاة یا لهاتیه حروف وایي.




(ك)


**۲- وسط اللسان:** د ژبې مینځنی برخې ته وسط اللسان وایي. د ژبې په دې برخه کې یو خاص مخرج موجود دی، چې درې حروف ورڅخه ادا کیږي.

✓ **(ج،ش،ی) مخرج:** کله چې د ژبې مینځنی برخه د پاس کام سره جوخت ولګیږي په دې حالت کې د ج، ش،ی حروف ادا کیږي. چې د غو درې واړو حروفو ته شجریه حروف وایي.


**۳- راس اللسان:** د ژبې څوکې ته راس اللسان وايي. د ژبې په دې برخه کې درې خاص مخرجونه دي، چې ۹ حروف ورڅخه ادا کیږي.


- ✓ **(ذ، ث، ظ) مخرج:** کله چې د ژبې څوکه د ثنايا عليا غاښونو له څوکو سره ولګیږي په دې حالت کې د ذ،ث،ظ حروف ادا کیږي. چې دې درې واړو حروفو ته لِثْوِيَه حروف وايي.


(ظ)



(ث،ذ)

- ✓ **(د، ت ، ط) مخرج:** کله چې د ژبې څوکه د ثنايا عليا غاښونو له بيخ يا د وريو سره ولګیږي په دې حالت کې د د،ت،ط حروف ادا کیږي. چې دې درې واړو حروفو ته نِطْعِيَه حروف وايي.


(ت،د)


(ط)

- ✓ **(ز، س، ص) مخرج:** کله چې د ژبې څوکه د ثنایا سفلی غاښونو له بیخ یا له بیخ څخه لږ پاس ولګیږي په دې حالت کې د ز،س،ص حروف ادا کیږي. چې دې درې واړو حروفو ته صَفِریَه حروف وایي.




(ز-س) (ص)


**۴- طرف اللسان:** د ژبې له څوکې څخه لږد ستوني خواته طرف اللسان وایي. د ژبې په دې برخه کې درې خاص مخرجونه موجود دي. چې درې حروف ورڅخه ادا کیږي.

- ✓ **(ن مخرج):** کله چې د ژبې طرف د پاسنیو وریو له اولې برخې سره ولګیږي په دې حالت کې ن حرف ادا کیږي.
- ✓ **(ل مخرج):** کله چې د ژبې طرف د پاسنیو وریو له مینځنۍ برخې سره ولګیږي په دې حالت کې ل حرف ادا کیږي.
- ✓ **(ر مخرج):** کله چې د ژبې طرف د پاسنیو وریو له آخرنۍ برخې سره ولګیږي په دې حالت کې ر حرف ادا کیږي.

**۵- حافة اللسان:** د ژبې بغل ته حافة اللسان وایي. د ژبې په دې برخه کې یو خاص مخرج دی، چې یو حرف ورڅخه ادا کیږي.

- ✓ **(ض مخرج):** کله چې د ژبې بغل د اَضْراس غاښونو سره ولګیږي په دې حالت کې ض حرف ادا کیږي او دا حرف نظر نورو حروفوته ډیر په سختۍ سره ادا کیږي.




(ض)

**۳- الشفتين يا الشفتان:** الشفتين جمع د شفه ده او شفه شونډې ته وايي او شفتين بيا دوو شونډو ته وايي. په شفتين يا شونډو کې دوه خاص مخرجونه دي چې څلور حروف ورڅخه ادا کيږي.


- ✓ **(ف مخرج):** کله چې د لاندينی شونډې لمده حصه د ثنايا عليا غاښونو له څوکو سره ولګيږي په دې حالت کې ف حرف ادا کيږي.



(ف)

- ✓ **(ب،م، و) مخرجونه: دا درې حروف له شونډو څخه اداء کيږي.**

- ❖ **(ب):** کله چې د دواړو شونډو لمدې حصې له يو بل سره ولګيږي په دې حالت کې ب حرف ادا کيږي.
- ❖ **(م):** کله چې د دواړو شونډو وچې حصې له يو بل سره ولګيږي په دې حالت کې م حرف ادا کيږي.
- ❖ **(و):** کله چې دواړه شونډې له يو بل سره په داسې شکل سره يو ځای شي چې يو بل سره ونه چسپيږي په دې حالت کې و حرف ادا کيږي. دغو څلور واړو حروفو ته شَفَوِيه حروف وايي.



(و)

**۴- الجوف:** خالیګاه ته جوف وایي، په جوف کې یو خاص مخرج موجود دی چې درې حروف ورڅخه ادا کیږي.

- ✓ **الف مده، واو مده ،یای مده مخرج:** دا حروف د خولې له خالیګاه څخه ادا کیږي. دې درې واړو حروفو ته مده حروف وایي.
- ❖ **الف:** الف هغه وخت د خولې له خالیګاه څخه ادا کیږي چې الف ساکن وي او له هغه مخکې حرف زور ولري لکه: قَالَ.. دلته الف مد لري.
- ❖ **ی:** ی هغه وخت د خولې له خالیګاه څخه ادا کیږي چې ی ساکنه وي او له هغه مخکې حرف زیر ولري لکه: نستَعِیْن...
- ❖ **و:** و حرف هغه وخت د خولې له خالیګاه څخه ادا کیږي چې و ساکن وي او له هغه مخکې حرف پیښ ولري لکه: المَغْضُوْبِ....

**۵- الخیشوم:** د پزې آخري برخې ته خیشوم ویل کیږي. په خیشوم کې یو خاص مخرج دی.

- ✓ **غنه:** غنه عبارت له هغه آواز څخه ده چې په پوزه کې را پیدا کیږي. یا غنه هغه آواز دی چې د غرڅه له آواز سره مشابهت لري. غنه له خیشوم څخه ادا کیږي او غنه کوم حرف نه دی بلکې د نون او میم یو صفت دی. چې وروسته بیا د حروفو په صفاتو کې په تفصیل سره پرې بحث کوو.

## اقسام المخارج

مخرجونه په دوه ډوله دي:

- ❖ **محقق مخرجونه:** محقق ـــــ څرګند او واضح ته وایي او په اصطلاح کې هغه مخرجونه چې په حلق ، ژبه او شونډو کې موجود وي هغه مخرجو ته محقق مخرجونه وایي. او یا په بل عبارت سره محقق مخرجونه هغه مخرجونو ته وایي چې په حلق، ژبه او شونډو کې یې یو جز معلوم وي. محقق مخرجونه ۱۵ داني دي. حلق، ژبه او شونډو ته اصول المخارج وایي.
- ❖ **مقدر مخرجونه:** مقدرــــــ پټ او غلی ته وایي او په اصطلاح کې هغه مخرجونو ته وایي چې په حلق، ژبه او شونډو کې موجود نه وي. یا په بل عبارت سره مقدر مخرجونه هغه مخرجونو ته ویل کیږي چې په جوف او خیشوم کې موجود وي. مقدر مخرجونه دوه داني دي.

## تمرین(۳)

**هر زده کونکي ته پکار ده چې لاندې د تجوید پوښتنې په خپلو کتابچو کې ځواب او زده یې کړي.**

۱- په ژبه کې څو مخرجونه موجود دي واضح کړئ؟

۲- عام او خاص مخرجونه تعریف کړئ؟

۳- هیجاء حروف په څو ډوله دي نوموونه یې واخلئ؟

۴- مخرجونه په څو ډوله دي نوموونه یې واخلی؟

۵- په شونډو کې څو مخرجونه موجود دي واضح کړئ؟

۶- ژبه په څو برخو ویشل شوي نوموونه یې واخلئ؟

۷- خاص مخرجونه څو داني دي له هغو څخه پنځه آخرني تشریح کړئ؟

۸- عام مخرجونه څوداني دي هریو واضح کړئ؟

۹- مخرج په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ؟

۱۰- غنه څه ته وایي واضح کړئ؟

۱۱- غنه په څو ډوله ده واضح کړئ؟

۱۲- حرف په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ؟

۱۳- په حلق کې څو مخرجونه موجود دي صرف نوموونه یې واخلئ؟

۱۴- نطعیه حروف څوداني دي نوموونه یې واخلئ؟

۱۵- شفویه حروف له کوم ځای څخه اداء کیږي واضح کړئ؟

۱۶- شفویه حروف څوداني دي واضح کړئ؟

۱۷- مده حروف څوداني دي نوموونه یې واخلئ؟

۱۸- مقدر مخرجونه کوم مخرجونو ته وایې واضح کړئ ؟ او هم ووایاست چې تعداد څوداني دی؟

۱۹- آیا ستاسو په نظر د مخرجونو زده کول کومه فایده لري او کنه خپل معقول دلیل ووایاست؟

۲۰- (الف، و ، ی) دغه درې حروف څه وخت د خولې له خالیگاه څخه ادا کیږي؟

۲۱- صفیریه حروف څوداني دي نوموونه یې واخلئ؟

۲۲- لثویه حروف څوداني دي نوموونه یې واخلئ؟

۲۳- لهاتیه حروف څوداني دي نوموونه یې واخلئ؟

۲۴- د حروفو مخرجونه په یو منظم جدول کې ځای پر ځای کړئ، د جدول د جوړولو لپاره له خپل مربوطه استاد سره مشوره وکړی ترڅو د جدول د جوړولو لارښونه تاسوته وکړي!

**په خپلو کتابچو کې لاندې خالي ځایونو کې مناسب لفظونه ولیکی!**

۱- مده حروف ........... داني دي.

۲- مده حروف عبارت له ........... دي.

۳- حلقي حروف ........... داني دي.

۴- محقق مخرج هغه مخرج ته وا يي چي ................................ معين ځای ولري.

۵- عام مخرجونه ......... داني دي

۶- عام مخرجونه عبارت دي له .........................................................

۷- په خيشوم کي ............ مخرجونه دي.

۸- شفويه حروف عبارت له ................. دي.

**لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې په (ص) یا (غ) ځواب کړی!**

۱- عام مخرجونه ۱۲ داني نه دي (     )

۲- محقق مخرجونه ضرور نه دي د حروفو لپاره(     )

۳- صفيريه حروف ۴ داني دي (     )

۴- خاص مخرجونه ۵ داني دي (     )

۵- الف ، و، ی صفيريه حروف نه دی (     )

# څلورم څپرکی

**موخې!**

د دې څپرکي په لوستلو سره به تاسي له لاندې مهم مواردو سره آشنا او وکولای شئ چې:

- ✓ د صفت په لغوي او اصطلاحي تعریف به ځان پوه کړئ.
- ✓ د حروفو صفتونو سره به آشنا شئ.
- ✓ د صفتونو ډولونه به وپیژنئ.
- ✓ وقف او د وقف نښې یا علامې به وپیژنئ.
- ✓ په قرآنکریم کې غلطې کول یعنې لحن او دهغه ډولونه به وپیژنئ.
- ✓ ابتدا په مفهوم به پوه شئ.
- ✓ اعاده په مفهوم به پوه شئ.
- ✓ سکته په مفهوم به پوه شئ.
- ✓ قطع په مفهوم به پوه شئ.
- ✓ د دې څپرکي په پای کې دمربوطه څپرکی تمرین(۴) ځای پرځای شوئ.

تجوید القرآن داسې یو مضمون دی چې هر تیر درس په راتلونکي درسونو تړاو لري نو په دې څپرکي کې چې په کومو مهمو موضوعاتو باندې بحث کوو زده کول یې ډیر ضروري دي تر څو د راتلونکي څپرکي درس ډیر آسانه شي.

که څوک غواړي چې یوحرف په ښه شکل سره ادا کړي لومړی باید د هغه حرف مخرج او صفت وپیژني تیر څپرکي کې مونږ او تاسو د حروفو په مخرجونو بحث کړی وه ، دې څپرکي کې به د حروفو پاتې برخه چې صفتونه دې بحث به وکړو!

## د حروفو صفات

صفات جمع د صفت ده او د صفت لغوي او اصطلاحي تعریف په لاندې ډول ده.

**د صفت لغوي تعریف:** صفت په لغت کې کیفیت او حالت ته وایي.

**د صفت اصطلاحي تعریف:** صفت هغه کیفیت یا حالت ته وایی چې د حروفو د صحیح ادا کولو په وخت کې منځ ته را ځي. لکه: همس، شدت ، رخوت......

د حروفو صفتونه په دوه ډوله دي.

- ✓ لازمه صفتونه
- ✓ عارضه صفتونه

**لازمه صفتونه:** هغه صفتونو ته ویل کیږي چې همیشه له حروفو سره وي، یا په بل عبارت لازمه صفتونه هغه صفتونو ته ویل کیږي چې هیڅکله له حروفو څخه نه جدا کیږي او که چیرته له حروفو څخه جدا شي هغه حرف له منځه ځي او یا ناقص ادا کیږي. ټول لازمه صفتونه ۱۷ دانې دي.

**د لازمه صفتونو ډولونه**

لازمه صفتونه په دوه ډوله دي:

- ✓ متضاد لازمه صفتونه
- ✓ غیر متضاد لازمه صفتونه

**متضاد لازمه صفتونه:** هغه صفتونو ته ویل کیږي چې یو دبل ضد وي. متضاد لازمه صفتونه ۱۰ دانې دي چې پنځه یې د پنځو نورو ضد ګڼل کیږي. متضاد لازمه صفتونه په لاندې ډول دي.

| | | |
|---|---|---|
| ۱- همس | ضد ⟵ | ۲- جهر |
| ۳- شدت | ضد ⟵ | ۴- رخوت |
| ۵- استعلاء | ضد ⟵ | ۶- استفال |
| ۷- اطباق | ضد ⟵ | ۸- انفتاح |
| ۹- اذلاق | ضد ⟵ | ۱۰- اصمات |

- ✓ **هَمْس:** همس په لغت کې د آواز ټيټوالی ته وايي. د همس صفت په لسو حروفو کې موجود ده چې عبارت دي له( ف، ح، ث، ه، ش، خ،ص، س،ک،ت ـــــ که يې يوځای کړو نو: فحثه، شَخْصٌ، سَكَتْ) ترې جوړيږي. دغو لسو حروفو ته مهموسه حروف وايي.
- ➢ **جَهَر:** جهر په لغت کې د آواز لوړوالي ته وايي. د جهر صفت په ۱۹ حروفو کې موجود ده چې دغو حروفو ته مجهوره حروف وايي. د مهموسه حروفو څخه بدون نور ټول حروف مجهوره حروف دي.
- ✓ **شَدَّتْ:** شدت په لغت کې سختوالي ته وايي. د شدت صفت په اتو(۸) حروفو کې موجو ده چې عبارت له ( أ،ج،د،ق،ط،ب،ک،ت ـــــ که يې يو ځای کړو نو: أَجِدْ قَطْ بَكَتْ) ترې جوړيږي. دغو اتو حروفو ته شديده حروف وايي.
  - ✓ **توسط:** توسط په لغت کې درميانه ته وايي. د توسط حالت په پنځو(۵) حروفو کې موجو ده چې عبارت له ( ل،ن،ع،م،ر ـــــ که يې يو ځای کړو نو: لِنْ عُمَر) ترې جوړيږي. دغو پنځو حروفو ته متوسطه حروف وايي.
- ➢ **رِخْوَتْ:** رخوت په لغت کې نرموالي ته وايي. د رخوت صفت په ۱۶ حروفو کې موجود ده چې دغو حروفو ته رخوة حروف وايي. د شديده او متوسطه حروفو څخه بدون نور ټول حروف رخوة حروف دي.
- ✓ إِسْتَعْلا: استعلا په لغت کې لوړوالي ته وايي. د استعلا صفت په اوو(۷) حروفو کې موجو ده چې عبارت له ( خ،ص،ض،غ،ط،ق،ظ ـــــ که يې يو ځای کړو نو: خُصَّ، ضَغْطٍ ،قِظْ) ترې جوړيږي. دغو اوو حروفو ته مستعليه حروف وايي.
- ➢ إِسْتَفال: استفال په لغت کې ټيټوالي ته وايي. د استفال صفت په ۲۲ حروفو کې موجود ده چې دغو حروفو ته مستفله حروف وايي. د مستعليه حروفو څخه بدون نور ټول حروف مستفله حروف دي.
- ✓ إِطْباق: اطباق په لغت کې پيوستوالي ته وايي. د اطباق صفت په څلورو(۴) حروفو کې موجود ده چې عبارت له (ص،ض ،ط، ظ ) دغو څلورو حروفو ته مطبقه حروف وايي.
- ➢ إنفتاح: انفتاح په لغت کې خلاصوالي ته وايي. د انفتاح صفت په ۲۵حروفو کې موجود ده چې دغو حروفو ته منفتحه حروف وايي. د مطبقه حروفو څخه بدون نور ټول حروف منفتحه حروف دي.
- ✓ إِذْلاق: اذلاق په لغت کې طرف يا تيزوالي ته وايي. د اذلاق صفت په شپږو(۶) حروفو کې موجو ده چې عبارت له ( ف،ر،م،ن،ل،ب ـــــ که يې يو ځای کړو نو: فَرَّ، مِنْ ،لُبٍّ) ترې جوړيږي. دغو شپږو حروفو ته مذلقه حروف وايي.
- ➢ إِصْمات: اصمات په لغت کې چوپ والي ته وايي. د اصمات صفت په ۲۳حروفو کې موجود ده چې دغو حروفو ته مصمته حروف وايي. د مذلقه حروفو څخه بدون نور ټول حروف مصمته حروف دي.

**غير متضاد لازمه صفتونه:** هغه صفتونو ته ويل کيږي چې ضد ونلري. غير متضاد لازمه صفتونه (۷)داني دي. چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو.

| |
|---|
| ۱- صفير صفت |
| ۲- لين صفت |
| ۳- تکرير صفت |
| ۴- انحراف صفت |
| ۵- تفشي صفت |
| ۶- استطالت صفت |
| ۷- قلقله صفت |

- ✓ **صفير:** صفير په لغت کې د مرغانو غږ ته وايي يا صفير شپيلی ته وايي، صفير صفت په درې حروفو کې موجود ده چې عبارت دي له( ص،ز،س) چې دغو درې حروفو ته صفيريه حروف وايي.
- ✓ **لين:** لين په لغت کې نرمي ته وايي ،لين صفت په دوو(۲)حروفو کې موجود ده چې عبارت دي له( وْ،يْ) په دې حروفو کې هغه وخت د لين صفت موجود وي چې دا حروف ساکن وي او ماقبل حرف يې مفتوح وي يعني فتحه ولري.
- ✓ **تکرير:** تکرير په لغت کې تکرار ته وايی ،تکرير صفت په يوه(۱)حرف کې موجود ده چې عبارت دي له( ر). د ( ر) حرف کې بايد شُبْهَ د تکرار وي يعني خپله را بايد تکرار نشي.
- ✓ **اِنحراف:** انحراف په لغت کې کوږوالي ته وايی ،انحراف صفت په دوه(۲)حروفو کې موجود ده چې عبارت دي له(ل، ر). دغو دوو حروفو ته منحرفه حروف وايي.
- ✓ **تفشي:** تفشي په لغت کې شيندلو ته وايی ،تفشي صفت په يوه(۱)حرف کې موجود ده چې عبارت دي له( ش).
- ✓ **اِسْتِطالَتْ:** استطالت په لغت کې اوږد والي ته وايی ،استطالت صفت په يوه(۱)حروفو کې موجود ده چې عبارت دي له(ض).
- ✓ **قلقله:** قلقله په لغت کې لړزه ولو يا تمبيدلو ته وايی ،اوپه اصطلاح کې هغه صفت ته ويل کيږي چې په مخرج کې د قلقله حروفو د ادا کولو په وخت کې حروفو ته شبه د حرکت ورکولو ته قلقله وايي ،قلقله صفت په پنځو(۵)حروفو کې موجود ده چې عبارت دي له( ق،ط،ب،ج،د ـــــــ که چيرته دا حروف سره يو ځای شي نو: قُطْب،جَدْ) ترې جوړيږي. په دې حروفو کې هغه وخت قلقله کيږي چې دا ټول ساکن وي.

**القلقله ډولونه**

قلقله په درې ډوله ده.

- قلقله کبری: کله چې دیوې کلمې په آخره کې د قلقله حرف راشي او هغه مشدد وي، نو په دې حالت کې قلقله کبری کیږي. لکه:
  - وَتَبَّ
  - حقٌّ
  - اَلْحَجُّ

- قلقله وسطی: کله چې دیوې کلمې په آخره کې د قلقله حرف راشي خو هغه مشدد نه وي، نو په دې حالت کې قلقله وسطی کیږي. لکه:
  - اَحَدْ
  - كَسَبَ
  - بَهِيْجْ
- قلقله صغری: کله چې دیوې کلمې په مینځ کې د قلقله حرف راشي خو هغه مشدد نه وي، نو په دې حالت کې قلقله صغری کیږي. لکه:
  - يَقْضِی
  - يُطْعِمُ
  - يَدْخُلُوْنَ

**د متضاد لازمه صفتونو او غیرمتضاد لازمه صفتونو ترمنځ فرق**

د متضاد لازمه صفتونو او غیر متضاد لازمه صفتونو ترمنځ عمده فرقونه په لاندې ډول دي.

۱- متضاد لازمه صفتونه د هیجاء په ټولو حروفو کې وي خو غیر متضاد لازمه صفتونه یوازې د هیجاء په ۱۵ حروفو کې وي.

۲- متضاد لازمه صفتونه ضد لري اما غیر متضاد لازمه صفتونه ضد نلري.

## عارضه صفتونه

مونږ او تاسو تیرو درسونو کې د صفاتو په ډولونو خبرې کړې وې، نن موږ د صفاتو په بل ډول چې عارضه صفتونه دې بحث کوو. خو مخکې له دې چې په عارضه صفاتو خبرې وکړو لومړی باید د هیجاء د حروفو په ډولونو پوه شو.

**هیجاء حروف په درې ډوله دي:**

- ❖ د هیجاء هغه حروف چې همیشه ډک لوستل کیږي، دا ډول حروف (۷) داني دي.چې عبارت دي له ( خص، ضغط، قظ).
- ❖ د هیجاء هغه حروف چې کله ډک او کله تش لوستل کیږي، دا ډول حروف (۳) داني دي. چې عبارت دي له ( الالف(ا)، اللام(ل)، والراء(ر)).
- ❖ د هیجاء هغه حروف چې همیشه تش لوستل کیږي، دا ډول حروف (۱۹) داني دي. چې عبارت دي له( ب، ت، ث،ج،ح،د،ذ،ز،س،ش،ض،ع،ف،ک، م،ن،و،ء،ی)

عارضه صفتونه: هغه صفتونو ته ویل کیږي چې ځیني وخت په حروفو کې وي او ځیني وخت په حروفو کې نه وي. عارضه صفتونه یواځې په (۸) حروفو کې پیدا کیږي چې دا اته حروف عبارت دي له ( ء،ل،ی،و،م،ن،الف،ر ــــــ که چیرته دا حروف سره یوځای شي نو: اَلْیَوْمَ نَارٌ) ترې جوړیږي. عارضه صفتونه (۱۱) داني دي.

**عارضه صفتونو ډولونه**

عارضه صفتونه په دوه ډوله دي:

- ➢ عارض بالحرف صفتونه
- ➢ عارض بالصفت صفتونه

**عارض بالحرف صفتونه:** هغه صفتونو ته ویل کیږي چې د دوو حروفو په یوځای کیدلو سره رامنځته کیږي. عارض بالحرف صفتونه (۹) داني دي یا (۹) احکام یا حالتونه لري.

- ❖ الاظهار: مَنْ عَمِلَ
- ❖ الادغام: مِنْ مّاء
- ❖ الاقلاب: مِنْ بَعد
- ❖ الاخفاء: اَنْفُسِهِم
- ❖ المد: مَآ اُوحِي، بِمَآاُنْزِل
- ❖ القصر: قَالَ
- ❖ التحرک: یوحرف یا زور، یا زیر او یا پیښ لري. لکه: یُمْدِدْکُمْ
- ❖ السکون: یو حرف همیشه متحرک نه وي بلکې ځیني وخت ساکن وي ،یعنې غړوندی لري.لکه: یُمْدِدْکُمْ
- ❖ السکته: بل رَانَ

**عارض بالصفت:** هغه صفتونو ته ویل کیږي چې د لازمه صفتونو په وجه را پیدا کیږي. عارض بالصفت دوه داني دي:

- ➢ التفخیم
- ➢ الترقیق

دا دواړه صفتونه په درې حروفو کې موجود وي. چې عبارت دي له( الف، ل،ر)

### د لازمه او عارضه صفتونو ترمنځ فرق

د لازمه او عارضه صفتونو ترمنځ عمده فرقونه درې دي:

- ❖ لازمه صفتونه د هيجاء په ټولو حروفو کې وي او عارضه صفتونه يواځې د هيجاء په اتو(۸) حروفو کې وي.
- ❖ په لازمه صفتونو کې غلطي کول په لحن جلي کې شميرل کيږي او په عارضه صفتونو کې غلطي کول په لحن خفي کې شميرل کيږي. د يو مسلمان لپاره ضرور ده چې له دواړو غلطيو ځان وساتي.
- ❖ لازمه صفتونه په حروفو کې بدون له کوم سببه پيدا کيږي او صفات عارضه په حروفو کې په يو سبب سره پيدا کيږي.

# وقف

وقف په لغت کې دريدل او منع کولو ته وايي او په اصطلاح کې ديو آيت يا کلمې په آخره کې خپل نفس او آواز دواړه په داسې ډول قطع کول چې موقوف عليه حرف ته سکون ورکول شي که چيرې مخکې هم وربانديې سکون نه وي راغلی. يعنې په کوم حرف چې وقف کو هغه بايد ساکن ادا کړو او متحرک بايد ادا نشي.

### د وقف کيفيت او محل

ټول زده کوونکي بايد دوقف کيفيت او محل وپيژني ترڅو په قرآنکريم کې کومه غلطي رامنځته نکړي.

- ✓ **د وقف کيفيت:** د وقف له کيفيت څخه هدف دادی چې يو شخص بايد د وقف کولو طريقه او قاعده وپيژني او همدا راز يوشخص بايد ادا وپيژني چې بايد په کومو کلمو سره څرګند وقف وکړي او په کومو کلمو سره څرګند وقف ونکړي.
- ✓ **د وقف محل:** د وقف له محل څخه هدف دادی چې يو شخص بايد د وقف کولو محل او ځای و پيژني يعني دا بايد وپيژني چې په کومو کليمو سره وقف وشي او په کومو کليمو سره وصل وشي.

### د وقف نبني

د هرې ژبې ويونکی چې کله خبرې کوی نو په خپلو خبرو کې په بعضو ځايونو کې دريږي او په بعضو ځايونو کې نه دريږي.کله لږ او کله ډير دريږي.

د خبرو پوره مفهوم او بيان د خبرو په دريدلو او نه دريدلو کې پروت دی. نو بايد د قرآنکريم هر لوستونکی د قرآن کريم په لوستلو کې وقف مراعات کړي.

**مـ** دا د وقف لازم علامه ده د وقف په دې علامه باندې هرو مرو دريدل پکار دي. يعنې ( ٪۷۵ دريدل او ٪۲۵ نه دريدل. يعني دريدل بهتر دی)

**ط** دا د وقف مطلق علامه ده د وقف په دې علامه باندې دريدل پکار دي. يعنې ( ٪۷۵ دريدل او ٪۲۵ نه دريدل. يعنې دريدل بهتر دی)

**ج-** دا د وقف جایز علامه ده د وقف په دي علامه باندې دریدل غوره دي او نه دریدل جائز دي. ( ۵۰٪ دریدل او ۵۰٪ نه دریدل. خو دریدل بهتر دی)

**ز-** د وقف په دې علامه باندې نه دریدل غوره دي. ( ۲۵٪ دریدل او ۷۵٪ نه دریدل. یعني نه دریدل بهتر دی)

**ص-** دا د وقف پیوست علامه ده د وقف په دې علامه باندې پیوست کول پکار دي او که چیرته څوک د ستړیا له وجهې ودریږي جایز دی. ( ۵۰٪ پیوست کول او ۵۰٪ نه پیوست کول. خو پیوست کول بهتر دی)

**صلی-** دا هم د وقف پیوست علامه ده د وقف په دې علامه باندې وصل غوره دی یعني دلته پیوست لوستل غوره دي.

**ق-** د وقف په دي علامه باندې دریدل پکار نه دي. ( ۲۵٪ دریدل او ۷۵٪ نه دریدل. یعني نه دریدل بهتر دی)

**قف-** دا د وقف علامه ده. د وقف په دي علامه باندې دریدل پکاردي.

**سیاسکته-** دا د سکتې علامه ده، دلته لږ وخت دریدل پکاردي خو نفس به جاري وي( څاه یا نفس به نه ماتوی)

**وقفه-** دا د اوږدې سکتې علامه ده. دلته د سکتې په نسبت ډیر دریدل پکار دي لیکن چې نفس جاري وي.

**لا-** د لا معنی ده یعنی (نه) چې دا علامه کله د آیت دپاسه لیکل شوی وی او کله د عبارت دننه وي. هلته دریدل بلکل نشته او که د ایت د پاسه وي پدې کې اختلاف دي، ځیني وایې دریدل جایز دی او ځیني بیا وایي نه دریدل جایز دي، خو که ودریږي یا ونه دریږي په مطلب کې کوم خلل نه راځي.

**ک-** دا د کذالک علامه ده یعني کومه علامه چې مخکې تیره شوي وي. دلته هم باید همغه وګڼل شي.

**۵-** دا علامه د ځینو په نزد آیت علامه ده که وقف وشي نو دوباره ویل نشته.

**∴-** دا د درې ټکو وقف دی. دیته معانقه ویل شوی دی، ددې حکم دادی چې پر یو دریدل او پر بل نه دریدل پکار دي.

# د قرآنکريم په تلاوت کې لحن( غلطي)

**لحن(غلطي)تعريف:** لحن په لغت کې لهجې ته وايي چې موروجه معنی يې غلطي کول دي او په اصطلاح کې د تجويد دعلم ضد ته لحن ويل کيږي.

## د لحن ډولونه

لحن په دوه ډوله ده:

- لحن جلي
- لحن خفي

**لحن جلي:** لحن جلي ښکاره غلطی ته وايي، لحن جلي ځکه ورته وايي چې په دې غلطی باندې ټول عام مسلمانان پوهيږي.

**لحن جلي حکم:** لحن جلي کول حرام دي، ځان ساتل ترې فرض دي.

## د لحن جلي ډولونه

لحن جلي په پنځه ډوله ده:

۱- **تَبْدِيْلُ الحَرْفِ بِالْحَرفِ**: يعني ديوحرف پرځای بل حرف لوستل.لکه:

- اَلْحَمْدُ، اَلْهَمْدُ
- اِثْمٌ، اِسْمٌ
- فَتَرضَی، فَتَرْدَا
- عَلِيْمٌ، اَلِيمٌ

۲- **تَبْدِيْلُ الْحَرَكَةِ بِالْحَرَكَةِ**: د يوه حرکت پرځای بل حرکت لوستل.يعني د زور،زير او پيښ بدلول په يو بل باندې.لکه:

- يُوصَلَ ـــ يُوصَلُ، يَوصَلَ، يُوصُلَ
- اِيَّاکَ ـــ اِيَّاکِ، اَيَّاکَ، اِيَّاکُ
- اِهْدِنَاـــ اَهْدِنَا، اِهْدَنَا، اِهْدُنَا، اُهْدِنَا

۳- **تَبْدِيْلُ الْحَرَكَةِ بِاسُّكُوْنِ (ع)**: يعنی د يوحرکت بدلول په سکون باندې او ددې برعکس.لکه:

- تَبِعُوْ ـــ تَبْعُوْ، تَبِعُوَ، تَبِعُو
- اَنْعَمْتَ ـــ اَنْعَمَتَ، اَنَعَمْتَ
- يُوْصَلَ ـــ يُوْصَلْ، يُوْصْلَ ، يُوَصَلَ

۴- **تَبْدِيْلُ الْمُشَدَّدِ بِالْمُخَفَّفِ (ع)**: يعني مشدد حرف مخفف لوستل او يا مخفف حرف مشدد لوستل.لکه:

- اَلرَّحْمنِ ـــ اَلرَحمنِ ، اَلرِحْمنِ
- الرّحيمِ ـــ الرَحيمِ ، الرِحيمِ
- حَرَّمْنَا ـــ حَرَمْنَا
- فَتَحُوْـــ فَتَّحُوْ

۵- **زِيادَةُ الْحَرْف و نُقْصَانِهَا**: یعني په یوې کلمه کې د یو حرف زیاتوالی او یا هم د یوحرف کموالی. لکه:

- لَا یَعْلَمُوْنَ ـــ لَیَعْلَمُوْنَ
- اَلْحَمْدُ ، اَلْحَمْدُو

**لحن خفي:** لحن خفي پټې غلطی ته وایي، لحن خفي ځکه ورته وایي چې یوازې په دې ډول غلطی د تجوید دعلم استادان پوهیږي، په حروفو کې د صفات عارضه وو خیال نه ساتل لکه: د تفخیم پرځای ترقیق کول. دا ډول غلطی په لحن خفي کې شمیرل کیږي

**لحن خفي حکم:** د لحن خفي حکم مکروه ده، له دې ډول غلطی څخه ځان ساتل مستحب ده. اما راجح قول داښي چې د لحن خفي حکم هم حرام او ناروا ده. یوحافظ د قرآنکریم او عام مسلمان ته پکارده چې هم له لحن جلي او هم له لحن خفي څخه ځان وساتي.

## ابتداء- اعاده- سکته او قطع

اوس په دې خبرې کوو که چیرته یو شخص قرآنکریم تلاوت کوي او په عین د تلاوت په وخت کې وقف وکړي یعنې ودریږي نو په دې حالت کې باید له کوم ځای بیا شروع وکړي. د دې موضوع د لابنه وضح کیدو په پار لاندې مهم ټکو ته توجه کوو.

### ابتداء

ابتدا دیته وایي چې د مابعد څخه شروع وکړي. دا په دې معنی که چیرته یو شخص قرآنکریم تلاوت کوي او په عین د تلاوت په وخت کې وقف وکړي او بیا د شروع کولو لپاره د هغه په ادامه باید شروع وکړي.

### اعاده

اعاده دیته وایي چې د ماقبل څخه دوباره ولوستل شي. ددې پیژندل ځکه ضروري دي د وقف کولو څخه وروسته په بعضې حالاتو کې قاري د مابعد څخه شروع کوي.

### سکته

سکته په لغت کې چوپوالي ته وایي او په اصطلاح کې سکته دیته وایي چې بې غیر د ساه اخیستلو څخه آواز د لږ وخت لپاره قطع کړو.

په ټول قرآنکریم کې د حضرت امام حفص (رح) په روایت کې څلور ځایه سکته راځي.

- ✓ د سوره کهف په اولیني آیت په آخرکې( ولم یجعل له عوجا**....** قَيِّمًا لینذرَ ).
- ✓ د سورة یاسین په ۵۲ آیت کې ( قالو یا ویلنا من بعثنا من مرقدنا**....** هذا ما)
- ✓ د سورة قیامه په ۲۷ آیت کې ( وقیل من **....**راق)
- ✓ د سورة مطففین په ۱۴ آیت کې( کلا بل**....**ران علي قلوبهم)

په دریم او څلورم سورتونو کې د نون او لام ادغام په را کې د سکتي له وجهي نه ، نه کیږي.

# قطع

قطع په لغت کې پرې کولو ته وايي او په اصطلاح کې د قرآئت ختمولو ته قطع ويل کيږي.دا هم د سکتې په شانته د وقف د متعلقاتو څخه ده.

د وقف او قطعې تر منځ فرق دادې چې په وقف کې د وقف نه وروسته د قرآئت اراده موجوده وي، او په قطع کې بيا وروسته د قرآئت اراده نه وي موجوده او په همدغه ځای سره ختميږي، نو قطع په داسي ځای کې کول پکار دي چې يا سورة ختمه شي او يا د سورة په منځ کې يوه واقعه ختمه شي يا په داسي آيت باندې قطع وشي چې د مابعد سره لفظي او يا معنوي تعلق ونه لري او د وقف په علاماتو باندې قطع جواز نلري.

## څېرکی تمرین (۴)

**هر زده کونکي ته پکار ده چې لاندې د تجوید پوښتني په خپلو کتابچو کې ځواب او زده یې کړي.**

**۱-** لحن څه ته وایي واضح کړئ؟

۲- صفت په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ؟

۳- لحن په څو ډوله ده نومونه یې واخلئ؟

۴- د لازمه او عارضه صفتونو ترمنځ فرق وواياست؟

۵- صفت په څو ډوله ده هریو واضح کړئ؟

۶- لحن جلی کوم لحن ته وایي او ډولونه یې ذکر کړئ؟

۷- د ( ص) حرف کوم صفتونه لري واضح کړئ؟

۸- لازمه صفتونه کوم صفتونو ته ویل کیږي او ډولونه یې واضح کړئ؟

۹- متضاد صفتونه څو داني دي هریو تشریح کړئ؟

۱۰- غیر متضاد صفتونو او متضاد صفتونو ترمنځ فرق واضح کړئ؟

۱۱- غیرمتضاد صفتونه څوداني دي هریو تشریح کړئ؟

۱۲- قطع څه ته وایي تشریح کړئ؟

۱۳- د سکته او قطع تر منځ فرق واضح کړئ؟

۱۴- اعاده او ابتدا د تجوید دعلم په بنا څه ته وایي تشریح کړئ؟

۱۵- په قرآنکریم کې څو ځلې سکته راغلي هریو واضح کړئ؟

۱۶- لحن خفي تعریف کړئ او حکم وواياست؟

۱۷- د ( ح) حرف کوم صفتونه لري واضح کړئ؟

۱۸- د (م) حرف څو متضاد او څو غیرمتصاد صفتونه لري هریو یې وښایاست؟

۱۹- یو حرف حد اکثر څو صفتونه درلودلی شي او هغه حرف به کوم حرف وي واضح کړئ؟

۲۰- یو حرف حد اقل څو صفتونه لرلی شي واضح کړئ؟

۲۱- منحرفه حروف څو داني دي نومونه یې واخلئ؟

۲۲- پرته له منحرفه حروفو نور ټول حروف په کوم نوم یادیږي بیایي نومونه واخلئ؟

۲۳- مستعلیه او صفیریه حروف څو داني دي نومونه یې واخلئ؟

۲۴- په منفتحه حروفو کې کوم صفت وجود لري هغه صفت تشریح کړئ؟

۲۵- وقف تعریف کړئ او آیا ستاسو په نظر وقف په قرآنکریم کوم خاص رول لري او کنه واضح کړئ؟

۲۶- د وقف له علاماتو څخه ۷ داني تشریح کړئ؟

۲۷- د هیجاء له حروفو څخه کوم حرف دی چې ۷ صفتونه لري؟

۲۸- د(ر) حرف کوم صفتونه لري نومونه يې واخلئ؟

۲۹- آیا د تجوید دعلم دا ځیرکی تاسوته ګټور تمام شو او کنه؟ دلیل يې ووایاست؟

۳۰- هیجاء حروف په څو ډوله دي هریو واضح کړئ؟

۳۱- د متضاد او غیر متضاد صفتونو ترمنځ فرق واضح کړئ؟

۳۲- عارضه صفتونه کوم صفتونو ته وایي تشریح کړئ؟

۳۳- عارضه صفتونه په څو ډوله دي هریو توضیح کړئ؟

۳۴- عارضه صفتونه څو داني دي هریو ووایاست؟

۳۵- د حروفو صفتونه په یو منظم جدول کې ځای پر ځای کړئ، د جدول د جوړولو لپاره له خپل مربوطه استاد سره مشوره وکړی ترڅو د جدول د جوړولو لارښونه تاسوته وکړي!

**په خپلو کتابچو کې لاندې خالي ځایونو کې مناسب لفظونه ولیکی!**

۱- همس یو ........... صفت دی.

۲- رخوت صفت د ............... ضد دی.

۳- عارضه صفتونه هغه صفتونو ته وایي چې ................................................................

۴- اذلاق ضد..........

۵- هیجاء حروف ............ داني دي.

**لاندې پوښتنې په خپلو کتابچو کې په (ص) یا (غ) ځواب کړی!**

۱- صفت په لغت کې پېژندلو ته نه وایی(      )

۲- صفت له مخرج سره هیڅ کوم فرق نلري (      )

۳- مخرج او صفت د حروفو د ښه ادا کولو سرچینه نده (      )

۴- (ک) حرف پنځه صفتونه لري (      )

۵- ( ش) حرف درې صفتونه نلری(      )

۶- ( ی) حرف ترټولو نورو حروفو کم صفتونه لري (      )

۷- ادغام یو لازمه صفت نه دی (      )

۸- اخفاء یو عارضه صفت دی (      )

# پنځم څپرکی

**موخې!**

د دې څپرکي په لوستلو سره به تاسې له لاندې مهم مواردو سره آشنا او وکولای شئ چې:

- ✓ د نون ساکن او نون تنوین په تعریف به ځان پوه کړئ.
- ✓ نون ساکن او تنوین احکامو باندې به ځان پوه کړئ.
- ✓ مد تعریف او ډولونه به یې وپیژنئ.
- ✓ اظهار تعریف او حروف به یې وپیژنئ.
- ✓ ادغام تعریف او حروف به یې وپیژنئ.
- ✓ اقلاب تعریف او حروف به یې وپیژنئ.
- ✓ اخفاء تعریف او حروف به یې وپیژنئ .
- ✓ د دې څپرکي په پای کې دمربوطه څپرکی تمرین(۵) ځای پرځای شوئ.

د دې څپرکي موضوعات د تیرو څپرکیو سره ډېر تعلقات لري نو که غواړی د دې څپرکي په مواردو او موضوعاتو ښه پوه شی لومړئ د تیروڅپرکیو موضوعات یو ځل تکرار کړئ، تر دې څپرکي پورې د تجوید دعلم نیمه برخه تکمیلیږي نوره برخه به یې راتلوکي کال تاسوته په سمسترو نو کې ځای پرځای شي ، نو امید لرم چې دا درسونه تر راتلونکي سمسترونو یا نوی کلاسونو لپاه په یاد ولرئ.

## د نون ساکن اونون تنوین احکام

په دې درس کې به ان شاالله په ترتیب سره د نون ساکن او تنوین په تعریف دهغو په فرق او احکامو باندې خبرې وکړو، الله جل جلاله دې مونږ او تاسو ټولو ته د دې درس د رازده کولو او عمل کولو توفیق را نصیب وګرځوي.

**د نون ساکن( نْ ) تعریف:** نون ساکن هغه نون ته ویل کیږي چې ښکاره لیکل شوی وي او په سر باندې غړوندی یعني دا ( ْ ) نښه ولري. لکه: **اَنْتَ ، مِنْ.....**

**د نون تنوین تعریف:** نون تنوین هغه نون ته ویل کیږي چې ښکاره لیکل شوی نه وي لیکن اواز او حکم یې نون ساکن وي. لکه: **مًا، منْ......**

د نون تنوین علامې درې دانې دي چې عبارت دي له( ـــً ، ـــٍ ، ـــٌ ). د تنوین په هره علامه کې یو نون ساکن شته خو پټ ده . دغه نون ساکن لوستل کیږي لیکن لیدل کیږي نه.

**د نون ساکن او نون تنوین ترمنځ فرق**

د نون ساکن او نون تنوین ترمنځ لاندې مهم فرقونه موجود دي چې عبارت دي له:

- ✓ نون ساکن د کلمې په منځ او آخره کې راځي لیکن نون تنوین فقط د کلمې په پای کې راځي.لکه: **اَنْتَ ، اَ فَمَنْ ... عَلِیْمًا ، خَبِیْرًا....**
- ✓ نون ساکن ښکاره لیکل کیږي لیکن نون تنوین ښکاره نه لیکل کیږي. لکه: **مِنْهُمْ ، مًا....**
- ✓ نون ساکن په وقف او وصل کې لوستل کیږي لیکن نون تنوین فقط په وصل کې لوستل کیږي.
- ✓ نون ساکن په اسم، فعل او حرف ټولو کې راځي لیکن نون تنوین فقط په اسم کې راځي.
- ✓ نون ساکن همیشه اصلي وي کله کله زائد هم وي لیکن نون تنوین همیشه زائد وي.

د نون ساکن او نون تنوین احکام

د نون ساکن او نون تنوین احکام څلور دانې دي چې عبارت دي له:

- ❖ اِظْهار
- ❖ اِدْغام
- ❖ اِقْلاب
- ❖ اِخْفاء

**اظهار:** اظهار په لغت کې د یوحرف ښکاره لوستلو ته وایي. او په اصطلاح کې کله چې له نون ساکن او تنون څخه وروسته د حلقي یا اظهار له حروفو څخه یو حرف راشي هلته اظهار کیږي. یعني په دې معنی چې د اظهار په کولو سره باید په کلمه کې نون ساکن ، تنوین او د حلقي حرف ښکاره وویل شي. یعني نون ساکن باید ښکاره وویل شي او په تنوین کې چې کوم نون ساکن دی هغه هم باید ښکاره وویل شي.حلقي حروف شپږ دانې دي ( ء ها ع حا غ خا ).

**نوټ:** د اظهار په کولو کې باید لاندې ټکي په یاد ولرئ:

- ✓ که چیرته له نون ساکن څخه وروسته د اظهار یو حرف راغلی وي ، نو په دې حالت کې نون ساکن ښکاره لولو.
- ✓ که چیرته له تنوین څخه وروسته د اظهار یو حرف راغلی وی، نو په دې حالت کې په هغه حرف چې تنوین راغلی همغه حرف ښکاره لولو.

د اظهار موضوع د ښه واضح کیدلو لپاره لاندې مثالونوته متوجه شی ، الله جل جلاله دې تاسو ټولو ته اجرونه در نصیب کړي.

1. مَنْ أمَنَ
2. اَنْعَمْتَ
3. مِنْهُمْ
4. قَوْمًا غَيْرَكُمْ
5. مِنْ اَمْرِهِمْ
6. اِنْ هُوَ
7. حَكِيْمٌ حَمِيْدٌ
8. قَولاً غَيْرَ
9. تَنْحِتُوْنَ ، فَمَنْ حَجَّ ، مَنْ عَمِلَ ، سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ

**ادغام :** ادغام په لغت کې یو حرف په بل حرف کې داخلولو ته وایي او په اصطلاح کې کله چې له نون ساکن او یا تنوین څخه وروسته د ادغام له حروفو څخه یو حرف راشي هلته ادغام کیږي. د ادغام حروف شپږ دي ( ي ، ر، م ، ل ، و ، ن ـــــ که چیرته دا حروف سره یو ځای شي ورڅخه یرملون کلمه جوړیږي).

**نوټ:** د ادغام په کولو کې باید لاندې ټکي په یاد ولرئ:

- ✓ که چیرته له نون ساکن څخه وروسته د ادغام یو حرف راغلی وي ، نو په دې حالت کې له نون ساکن څخه مخکې حرف د ادغام په حرف کې داخلوو یعني نون ساکن هیڅ نه لولو.
- ✓ که چیرته له تنوین څخه وروسته د ادغام یو حرف راغلی وی، نو په دې حالت کې په هغه حرف چې تنوین راغلی هغه د ادغام په حرف کې مدغم کوو یا داخلوو.

د ادغام لپاره دوه مهم شرطونه موجود دي.

- اول حرف باید ساکن وي او دوهم حرف باید متحرک وی. او همدا رنګه ساکن حرف څخه مخکې حرف باید متحرک حرف کې مدغم شوی وي.
- مدغم او مدغم فیه باید په یوې کلمه کې راغلي نه وي.

**ادغام په ابتداء کې په دوه ډوله ده.**

- ➢ اِدْغَامِ مَعَ الْغُنَّهُ
- ➢ اِدْغَامِ بِلاَ غُنْهُ

**ادغام مع الغنه:** هغه ادغام ته ویل کیږي چې له هغه سره غنه هم کیږي. د ادغام هغه حروف چې له هغه سره غنه هم کیږي څلور داني دي ( ی ، م ، ن ، و ـــــ که چیرته دا حروف سره یو ځای شي ورڅخه (یمنو) کلمه جوړیږي ).

یعنې کله چې په یوې کلمه کې وروسته له نون ساکن یا تنوین څخه د ادغام دغه څلور حروف راشي هلته ادغام سره له غنې کیږي، یعنې له ادغام سره به غنه هم کوو!

**ادغام بلا غنه :** هغه ادغام ته ویل کیږي چې له هغه سره غنه نه کیږي. د ادغام هغه حروف چې له هغه سره غنه نه کیږي دوه داني دي ( ل ، ر ـــــ که چیرته دا حروف سره یو ځای شي ورڅخه (لر) کلمه جوړیږي ).

یعنې کله چې په یوې کلمه کې وروسته له نون ساکن یا تنوین څخه د ادغام دغه دوه حروف راشي هلته ادغام بدون له غنې کیږي، یعنې له ادغام سره به غنه نه کوو!

د ادغام موضوع د ښه واضح کیدلو لپاره لاندې مثالونو ته متوجه شی ، الله جل جلا له دې تاسو ټولو ته اجرونه در نصیب کړي.

1. مَنْ يَهْدِي، مِنْ مَّالٍ
2. اِنْ لَبِثْتُمْ- مَتَاعَاً لَكُمْ
3. مَنْ يَّقُوْلُ ، عَيْنًا يَّشْرَبُ
4. مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ
5. مِنْ لَّدُنْهُ

**د ادغام ډولونه د کیفیت په اعتبار**

ادغام د کیفیت په اعتبار په دوه ډوله ده.

- ✓ ادغام ناقص: ادغام مع الغنه ته ادغام ناقص وایي. ادغام مع الغنه ته ځکه ادغام ناقص وایي چې دلته د نون ساکن اثرې له منځه ځي لیکن صفت باقي پاتې کیږي. لکه: مَنْ يَهْدِي، مِنْ مَّالٍ.
- ✓ ادغام کامل: ادغام بلا غنه ته ادغام کامل وایی. ادغام بلا غنه ته ځکه ادغام کامل وایي چې دلته د نون ساکن اثر او صفت دواړه له منځه ځي. لکه: اِنْ لَبِثْتُمْ- مَتَاعَاً لَكُمْ

**د ادغام ډولونه د داخلولو په اعتبار**

ادغام د داخلولو په اعتبار په دوه ډوله ده.

- ✓ ادغام صغیر: که چیرته په یو آیت کې ادغام شوی وي او د ادغام شرط هم موجود وي دېته ادغام صغیر وایي.
- ✓ ادغام کبیر : که چیرته په یو آیت کې ادغام شوی وي لیکن د ادغام شرط موجود نه وي دېته ادغام کبیر وایي.

**د ادغام ډولونه د سبب په اعتبار**

ادغام د سبب په اعتبار په درې ډوله ده.

- ✓ ادغام مثلین
- ✓ ادغام متجانسین
- ✓ ادغام متقاربین

**ادغام مثلین:** هغه ادغام ته ویل کیږي چې کله دوه هم مثله یوشان حرفونه یوځای راغلي وي او په یو بل کې مدغم شوي وي. د دې ډول ادغام حکم واجب ده. ادغام مثلین په ټول قرآن کریم کې ۱۴ ځایه راغلی اوادغام مثلین  فقط تام یا کامل ادغام لری ناقص ادغام نلري. لکه:

- اِذْهَبْ بِّکِتابَيْ ـ قَدْ دَّخَلُوْ ـ فَمَارَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ

ادغام مثلین په ټول قرآن کریم کې ۱۴ ځایه راغلی اوادغام مثلین  فقط تام یا کامل ادغام لری ناقص ادغام نلري. خو یوه خبره ده که چیرته اول حرف (ی مده) اویا اول حرف (و مده) وي اودواړه ساکن وی هلته بیا ادغام نه کیږي بلکې مد کیږي،او که چیرته بیا اول حرف (ی لین) اویا اول حرف (و لین) وي هلته بیا ادغام کیږي. لکه:

- أمَنُوْ وَعَمِلُوْ ـ فِيْ يَوْمٍ

**ادغام متجانسین:** هغه ادغام ته ویل کیږي چې دیو مخرج دوه بیلابیل حرفونه یوځای راشي او په یوبل کې مدغم شوي وي. لکه:

- قَدْتَّبَيَّنَ ـ قَالَتْ طَّائِفَة

داهم یوه مانع لري، که چیرته اول حرف د حلقي وی او هغه ساکن وي او دوهم حرف هم حلقي وي خو متحرک وي هلته بیا ادغام نه کیږي. لکه:

- فَاصْفَحْ عَنْهُمْ

ادغام متجانسین په دوه ډوله ده.

- ❖ ادغام متجانسین تام یا کامل: هغه ادغام ته وایي چې د ساکن حرف اثر او صفت دواړه له منځه تللي وي. لکه:  قَدْتَّبَيَّنَ ـ قَالَتْ طَّائِفَة ـ اِذْ ظَّلَمُوْ
- ❖ ادغام متجانسین ناقص: هغه ادغام ته وایي چې د ساکن حرف اثر یې له منځه تللی وي اما صفت یې له منځه تللي نه وي. لکه: اَ حَطْتَّ ـ بَسَطْتَّ ـ فَرَّطْتَّ

په قرآنکریم کې ادغام متجانسین ۷ ځلې راغلی چې ۶ ځایه تام یا کامل ادغام لري او ۱ ځای ناقص راغلی.

**ادغام متقاربین:** هغه ادغام ته ویل کیږي چې د دوو مخرجونو دوه بیلابیل حرفونه یوځای راشي او په یوبل کې مدغم شوي وي.

ادغام متقاربین په درې ډوله ده.

- ادغام متقاربین تام یا کامل: هغه ادغام ته وایي چې د ساکن حرف صفت او اثریې له منځه تللی وي.لکه: مِنْ لَّدُنْهُ ـ مِنْ رَّبِّهِمْ
- ادغام متقاربین ناقص: هغه ادغام ته وایي چې د ساکن حرف صفت له منځه نه وی تللی اما اثریې له منځه تللی وي.لکه: مِنْ وَّلِيٍّ ـ مِنْ يَّوْمِهِمْ
- ادغام متقاربین مختلف فیه : هغه ادغام ته ویل کیږي چې په هغه کې هم ادغام متقاربین تام یا کامل او هم ادغام متقاربین ناقص جائز دی. لکه : نَخْلُقْكُمْ

که چیرته په پورتني مثال کې تاسي تام یا کامل ادغام کوی نو بیابه دغه دوهم (ک) به مشدد کوی چې ترڅو د (ق ) حرف هیڅ اثر پاتې نشي. اما بیا که چیرته ادغام ناقص پکې کوی نو باید د (ق) حرف استعلاء صفت ورسره په نظر کې ونیسی خو قلقله باید ونکړی.

په قرآنکریم کې ادغام متقاربین ۷ ځایه راغلی دی، چې ۲ ځایه کامل دی، ۳ ځایه ناقص دی او ۲ ځای مختلف فیه دی.

دا هم یوه مانع لري، که چیرته په متقاربین حرفونو کې اول حرف حلقي وي او ورپسې حرف دهغه متقارب حرف وي هلته بیا ادغام نه کیږی.لکه: لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا

## اقلاب

اقلاب په لغت کې یوحرف په بل حرف بدلولو ته وایي او په اصطلاح کې کله چې له نون ساکن او یا تنوین څخه وروسته د اقلاب حرف راشي هلته اقلاب کیږي. اقلاب یو حرف لري چې عبارت دی له(ب). خو یوه مهمه خبره ده چې له اقلاب سره غنه کول ضروري وي.

**نوټ:** د اقلاب په کولو کې باید لاندې ټکي په یاد ولرئ:

- ✓ که چیرته له نون ساکن څخه وروسته د اقلاب حرف راغلی وي ، نو په دې حالت کې نون ساکن په میم حرف بدلوو.
- ✓ که چیرته له تنوین څخه وروسته د اقلاب حرف راغلی وی، نو په دې حالت کې په تنوین کې چې کوم نون ساکن ده هغه په میم حرف بدلوو.

د اقلاب موضوع د ښه واضح کیدلو لپاره لاندې مثالونوته متوجه شی ، الله جل جلاله دې تاسو ټولو ته اجرونه در نصیب کړي.

- مِنْ بَعْدِ
- سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ
- عَلِيْمٌ بِذَاتِ

## اخفاء

اخفاء په لغت کې د یو حرف پټ لوستلو ته وایي او په اصطلاح کې کله چې له نون ساکن اویا تنوین څخه وروسته د اخفاء له حروفو څخه یو حرف راشي هلته اخفاء کیږي. له اخفاء سره غنه کول هم ضرور دي.

د اخفاء حروف ۱۵ داني دي چې عبارت دي له ( ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض ، ط، ظ، ف، ق، ک).

**نوټ:** د اخفاء په کولو کې باید لاندې ټکي په یاد ولرئ:

- ✓ که چیرته له نون ساکن څخه وروسته د اخفاء یوحرف راغلی وي ، نو په دې حالت کې نون ساکن پټ لولو یعني ښکاره یې نه لولو.
- ✓ که چیرته له تنوین څخه وروسته د اخفاء یو حرف راغلی وی، نو په دې حالت کې په تنوین کې چې کوم نون ساکن ده هغه پټ لولو.
- ✓ د هیجاء په حروفو کې یو حرف ده چې نه د اظهار ، نه د ادغام ، نه د اقلاب او نه د اخفاء حکم لري چې هغه حرف عبارت له ( الف) څخه ده.

د اخفاء موضوع د ښه واضح کیدلو لپاره لاندې مثالونوته متوجه شی ، الله جل جلاله دې تاسو ټولو ته اجرونه در نصیب کړي.

- اَنْتُمْ، وَاِنْ تُبْتُمْ
- مِنْ ثَمَرَةٍ
- مِنْ دَارِهِمْ
- ءَاَنْذَرْتَهُمْ
- اَنْزَلَ
- اِنْسَانٌ
- مِنْ شَرِّ
- يَنْصُرُكُمْ
- مَنْضُوْدْ
- اَنْجَيْنَا
- قِنْطَارٍ
- أُنْظُر
- اَنْفُسَهُمْ
- يَنْقَلِبُ
- عَنْكُمْ

## مد

**مد:** مد په لغت کې اوږدولو او کشکولو ته وايي او په اصطلاح کې په حروف مده او حروف لين باندې د آواز اوږد ولو ته مد وايي. حروف مده درې داني دي(الف، و، ی) کله چې دا حروف ساکن وي او ماقبل حرکت یې د خپل جنس څخه وي لکه« قَالَ، قَالُو، قِيلَ». او حروف لين دوه داني دي (و ، ی) کله چې دا حروف ساکن وي او ماقبل حرف یې مفتوح وي،يعني فتحه ولري لكه« مِنْ خَوْف، وَالصَّيْف»

**د مد لپاره شرط او محل**

د مد لپاره قوي شرط او محل مده حروف دي او د مد لپاره ضعیف شرط او محل لين حروف دي.

**مد په ابتدا کې په دوه ډوله ده.**

- ✓ مد اصلي
- ✓ مد فرعي

په ټول قرآنکريم کې چې کوم مدونه موجود دي په پورتنيو دوو مدونو پورې به تړاو لري. يعني يا به اصلی مد وی يا به فرعي مد وي.

مد اصلي: هغه مد ته ويل کيږي چې هيڅ سبب ته ضرورت نلري. مد اصلی ته مد طبيعي او مد ذاتي هم وايي. ذاتي او طبيعي مد ځکه ورته وايي چې د مد حروف په خپل ذات کې مديت لري که چيرته مد ترې لرې شي دا حروف باقي نه پاتې کيږي.

مد اصلی د يوې کلمې په سر کې ، د يوې کلمې په منځ کې او ديوې کلمې په آخر کې ټولو کې راتللی شي. بله مهمه خبره داده چې مد اصلی د وصل په حالت او د وقف په حالت دواړو کې تلاوت کيږي. د مد اصلی اندازه دوه حرکته ده يعنې مداصلی بايد د دوو حرکتونو په اندازه کشکول شي.

مخکې له دې چې د مد په نورو مشخصاتو بحث وکړو لومړی بايد ( مد صِلْه) وپيژنو.

مدصِلْه: هغه مد ته ويل کيږي چې يواځې په وخت د وصل کې کيږي او د وقف په وخت کې دا مد نه کيږي. د مد صله شرطونه عبارت دي له ( های ضمير بايد راغلي وي ، های ضمير بايد متحرکه وي، های ضمير بايد د دوو متحرکو حروفو په منځ کې وي)

های ضمير: هغه (ه) ته ويل کيږي چې پيښ ولري او يا هم خنجري زير ولري. لکه: (هُ)..

مد صِلْه ډولونه

مد صله په دوه ډوله ده.

- ❖ مد صِلْه صُغْری
- ❖ مد صِلْه کُبْری

وروسته به ان شاالله په دې دواړو مدونو بحث وکړو.

د مد اصلي ډولونه

مد اصلي په څلور ډوله ده.

- ✓ مدِ البَدَلْ
- ✓ مد العِوَض
- ✓ مد صِلَه صُغْرى
- ✓ مَدْ تَمّكِين

مد البدل: کله چې په قرآنکریم کې ءَ، ءِ ، ءُ الفاظ راغلل دیته مد البدل وایي. مدالبدل همیشه کلمې په سرکې را ځي کله کله د کلمې په منځ کې هم راځي، د مد البدل اندازه دوه حرکته ده یعنې مدالبدل باید د دوو حرکتونو په اندازه کشکول شي.لکه:

- ءَامَنُوْ
- ءِايْمَنًا
- أُوتُوْ

مد العِوض: په ټول قرآنکریم کې په دوه زورونو یا فتحه تین باندې راځي. او همیشه د کلیمې په آخره کې په حالت دې وقف کې راځي او وصلً نه ویل کیږي. د مد العوض اندازه دوه حرکته ده یعنې مدالعوض باید د دوو حرکتونو په اندازه کشکول شي.لکه:

- أَفْوَاجًا = ةً

مد صله صغری: هغه مد ته ویل کیږي چې یواځې په وخت د وصل کې کیږي او د وقف په وخت کې دا مد نه کیږي. مد صله صغرا به هغه وخت کوی چې ( های ضمیر راغلي وي ، های ضمیر باید متحرکه وي، های ضمیر باید د دوو متحرکو حروفو په منځ کې وي). د مد صله صغرا اندازه دوه حرکته ده یعنې مد صله صغرا باید د دوو حرکتونو په اندازه کشکول شي. لکه:

- مَالَهُ يَتَزَكّى - بِه بَصِيرًا

مد تمکین: هغه مد ته ویل کیږي چې مد اصلی یا مد طبیعی ته په بعضې حالاتو کې د دې امکان برابروي چې مد وشي. نو په دې سره ویلی شو چې مد تمکین یو خاص حالت ده د مد اصلي لپاره. لکه:

- حُيِّيْتُمْ - اَلنَّبِيِّيْنَ

مد فرعي : هغه مد ته ویل کیږي چې سبب ته ضرورت ولري. یعنې پرته له سببه فرعي مد نه ادا کیږي.

د مد فرعي سببونه: د مد فرعي سببونه دوه داني دي.

- ➢ الهمزة
- ➢ السکون

د مدفرعي ډولونه

مد فرعي په شپږ مهمو برخو ویشل شوی.

- ✓ مد متصل
- ✓ مد منفصل
- ✓ مد صله کبری
- ✓ مد عارض وقفي
- ✓ مد لین عارض
- ✓ مد لازم

د مد متصل، مد منفصل او مد صله کبرا سبب همیشه همزه وي او د مد عارض وقفي ، مد لین عارض او مد لازم سبب همیشه سکون وي.

د مده حروفو ( ا ، و ،ی ) لپاره دوه سببه راتللی شی. ۱- همزه. ۲- سکون.

د لین حروفو ( و، ی ) لپاره یو سبب را تللی شي. ۱- سکون.

**مد متصل:** هغه مد ته ویل کیږي چې په قرآنکریم کې حرف د مد او سبب د مد په یوه کلمه کې راغلي وي. د مد متصل اندازه له ۴ حرکتونو څخه تر ۵ حرکتونو پورې ده. خو( توسط کول جایز دي) لکه:

- جَآءَ
- سَوَآءٌ
- سِيْئَتْ

**مد منفصل:** هغه مد ته ویل کیږي چې په قرآنکریم کې حرف د مد په یوې کلمې کې راغلي وي او سبب د مد په بله کلمه کې راغلي وي. یا په بل عبارت سره مد منفصل هغه مد ته ویل کیږي چې په قرآنکریم کې حرف د مد د اولې کلیمې په آخر کې راغلی وي او سبب د مد د دوهمې کلمې په سر کې راغلی وي. د مد منفصل اندازه له ۲ حرکتونو څخه تر۶ حرکتونو جایز ده. خو غوره اندازه یې ۴ حرکته ده ( توسط کول جایز دي) لکه:

- قَالُوْ أمَنَّا

**مد صله کبری:** که چیرته په ټول قرآنکریم کې های ضمیر راغلې وه او وروسته له هغه همزه راغلې وه دلته به مد صله کبرا کوی. د مد صله کبرا اندازه ۴ حرکته ده( توسط کول جایز دي) لکه:

- مَالَهُ اَخْلَدَه ـــــ أيَاتِه أنْ خَلَقَكُمْ

د پورتنیو درې واړو فرعي مدونو سبب یې همزه وه د پاتې نورو فرعي مدونو سبب به یې سکون وي.

**مد عارض وقفي:** دا هغه مد ته ویل کیږي چې فقط د وقف په حالت کې په سبب د وقف سره کیږي. یعني په هغه صورت کې چې که چیرته په یوې کلمې کې وقف کوی او د کلمې له آخري حرف څخه مخکي حرف ، مده حرف وي نو د کلمي آخري حرف باید عارضي ساکن کړئ، مد عارض وقفي ته مد عارض بالسکون هم وایي. د مد عارض وقفي اندازه له ۲ حرکتونو څخه تر۶ حرکتونو جایز ده. خو غوره اندازه یکې ۶ حرکته ده ( طول کول جایز دي) لکه:

- مُفْلِحُوْنَ ـــ مُفْلِحُوْنْ
- مُتَّقِيْنَ ـــــ مُتَّقِيْنْ

**مد لین عارض:** د لین حروف دوه داني دي ( و ، ی ) دا دوه حروف هغه وخت د لین حروف ګڼل کیږي چې کله دا حروف ساکن وی او مخکینی حرف زور ولري.

د مد لین عارض اندازه له ۲ حرکتونو څخه تر۶ حرکتونو جایز ده. خو غوره اندازه یکې ۲ حرکته ده ( قصر کول جایز دي) لکه:

- خَوْفٍ ــــ وَالصَّيْف

**مد لازم:** هغه مد ته ویل کیږي چې باید هغه په یوې کلمې کې لازم ادا کړو.

مد لازم په ابتدا کې په دوه ډوله ده.

۱- مد لازمی کلمي

۲- مد لازمی حرفي

۱ ـــ مد لازمی کلمي : هغه مد ته وایي چې په یوې کلمې کې راغلی وي.
مد لازمی کلمي په ابتدا کې په دوه ډوله ده.
الف ـــ مد لازمي کلمی مثقل: هغه مد ته وایي چې په یوې کلمه کې وروسته له مده حرف څخه یو مشدد حرف راغلي وي.لکه:

- الحَآقّة ـــ وَالَضَّآلِّيْن

ب- مد لازمي کلمی مخفف: هغه مد ته وایي چې په یوې کلمه کې وروسته له مده حرف څخه یو مشدد حرف نه وي راغلي بلکې سکون راغلی وي.لکه:

- ءآلْئٰنَ

۲- مد لازمی حرفي: هغه مد ته ویل کیږي چې په یو حرف کې راغلی وي.
مد لازمي حرفي په ابتدا کې په دوه ډوله ده.
الف- مد لازمی حرفي مثقل: هغه مد ته وایي چې په یوحرف کې وروسته له مده حرف څخه یو مشدد حرف راغلي وي.لکه:

- المّ

ب- مد لازمی حرفی مخفف: هغه مد ته وایي چې په یو حرف باندې ځانته د مد علامه راغلي وي.

## ځیرکي تمرین (۵)

**د دې ځیرکي د تمرین لپاره څلور ځوابه پوښتنې ترتیب شوي، د هرې پوښتنې لپاره څلور ځوابونه ورکول شوي تاسي فقط د صحیح ځواب ښځه کړئ را تاو کړئ.**

**نوټ: په دې پوښتنو کې د نورو ځیرکیو پوښتنې هم ځای پرځای شوي!**

۱- د نون ساکن او تنوین احکام څو دي؟

الف: ۵ ب: ۳ ج: الف او ب ځواب غلط دی د: ج ځواب درست دی

۲- مد په لغت کې څه معنی نلري؟

الف: کشکول ب: اوږدول ج: الف ځواب غلط دی د: نرمول

۳- تجوید په لغت کې څه معنی لري؟

الف: ښایسته لوستل ب: خراب نه لوستل ج: دواړه غلط ندی د: ج ځواب درست دی

۴- حلقي حروف څوداني دي؟

الف: ۳ ب: ۸ ج: ۶ د: ج درست دی

۵- صفات په څو ډوله دي؟

الف: ۲ ب: ۸ ج: دوه د: الف او ج درست دی

۶- مخرجونه په څو ډوله نه دي؟

الف: ۲ ب: ۸ ج: دوه د: الف او ج درست دی

۷- د هیجاء حروفو مقدار څو ندی؟

الف: ۳ ب: نه ویشت ج: ۲۹ د: ج درست دی

۸- مد په ابتدا کې په څو ډوله دی؟

الف: ۳ ب: ۲ ج: ۹ د: ب ځواب غلط ندی

# تمت بالخیر

وَ صَلَّی اللہُ عَلَی سَیِّدِنَا وَ مَوْلانَا مُحَمَّدٌ وَ عَلَی اَلِهِ وَ صَحْبِهِ اَجْمَعِیْنَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلَّی یَوْمِ الدِّیْنَ

# مآخذونه

١- احكام تجويد: نړيوال معتبر سافټوير

٢- تحفتة الاطفال: معتبر سافټوير

٣- تجويد القرآن: مرادي محي الدين

٤- تجويد آسان: عبدالعزيز ابو عاصم

٥- جمال القرآن: تهانوي حكيم الامت اشرف علي (رح)

٦- دروس التجويد: حليم نور خبر

٧- دروس التجويد: مؤمن شفيع الله

٨- رسالة تحفة الأحسان لتعليم التجويد القرآن

٩- آسانه تجويد: مترجم محمدي عبدالكريم.

## لیکوال پیژندنه

**جمشید حمزه زیار کښ او ژمن انسان**



زما د ژوند د یو ستونزور او خواږه پړاو ، پیاوړی او هوښیار ملګری د چا په ځېته کې چې ژمنتوب، رښتینولي او ملګر پالنه له پیله نغښتي ده، د یوه ښه انسان ځانګړنې یې د وجود په هر رګ کې غزونې کړې. او ددې رنځیدلې ټولنې هر درد ته یې خپلې ځانګړې نسخې وړاندې کړې. د انسان او انسانیت په مانا او مفهوم پوه دا انسان جمشید حمزه نومیږي،

ښاغلی استاد انجنیر جمشید حمزه د مرحوم میرحمزه زوی ، د ۱۳۷۷ کال د ثور په ۳ مه د لوګر ولایت په برکي برک ولسوالی کې د بابړو په کلي کې په یوه دینداره ، مجاهده او شهید پروره کورنۍ کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د پاد خواب روغني په عالي لیسه کې او منځنۍ زده کړه یې د کابل په حبیبیه عالی لیسه کې ترسره کړې او په ۱۳۹۵/۱۰/۱ کال د پادخواب روغني له عالي لیسه څخه فارغ شوی.

د ښوونځي د دورې پرمهال یې و کولای شول چې ۱۵ سپاره د قرآنکریم په بشپړ ډول حفظ کړي او تر څنګ یې نور دیني علوم له خپل ورونو هریو الحافظ وزیرګل ( مهمند) او انجنیر حامدګل ( مهمند) او نورو دیني مدارسو او معهدونو څخه ترلاسه کړي.

د کانکور د آزموینې په پایله کې ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځي ملي اقتصاد دیپارتمنت ته بریالی شو، په ۱۴۰۰ کال کې د یاد پوهنتون د اقتصاد پوهنځی څخه په لوړو نمرو(کادر) کې فارغ شو.

اوسمهال د هیواد د بچو د روزنې په پار د مکین انستیتوت اونورو خصوصي سکتورونو کې د ساینسي علومو او دیني علومو د استادئ سپیڅلې دنده په غاړه لري.خپل ګرېدلي ولس ته د خدمت په هیله یې تر دې دمه په خپله خوږه مورنی پښتو ژبه ددغو چاپ شوو علمي اثارو لیکوالي کړې: تجوید القرآن لومړی او دوهم چاپ.

زه ویاړم چې د حمزه په څیر څیرک او با احساسه و طن پال ملګری لرم د، د متعال رب له ستر درباره ورته د لابریا او خوښ ژوند دوعا کوم. د ژوند هر هیله یې پوره شه او هیڅ ارمان یې نیمګړی پاتې مه شه.

انجنیر مجتبی ودان ( سیدخیل)

لوګر- پل علم - ۱۴۰۱/۲/۲۳

## د لیکوال د اړیکو شمېرې:


✓ 0782528247

✓ 0767024698

✓ Jamshedhamzah@gmail.com